Download from:aghalibrary.cm

# نبوي او سپيڅلي ويناوې



ټولوونکي
فضل محمد عزيزي
محمد منير شمس

اثر خپرنیز خدمتونه

**د کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** نبوي او سپېڅلي ويناوې

**ټولوونکي:** فضل محمد عزيزي او محمد منير شمس

**کمپوز:** فضل محمد عزيزي او محمد منير شمس

**ډيزاين:** عبدالهادي اثر

**چاپشمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپ وار:** لومړی

**چاپ کال:** ۱۳۹۵ لمريز

**د چاپ حقوق له ټولوونکو سره خوندي دي**

**د ترلاسه کولو ځای:**

- روغانيوال کتاب پلورنځی، اسحاقزي مارکېټ، لانديني پوړ، جلال آباد.

اړيکشمېرې: ۰۷۷۷۷۲۴۴۷۰ - ۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹

- صادق کتاب فروشي، صادق زاده بزنس سنټر، دريم پوړ، ميوند جاده، کابل

**چاپچارې: اثر خپرنيز خدمتونه- جلال اباد**

اړيکشمېره: ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳ - ۰۷۸۸۰۰۳۷۰۳

ايميل: abdulhadi.asar@gmail.com

**Download from:aghalibrary.cm**

## ډالۍ !

**خپلو درنو والدینوته !**

چې زمونږ په زده کړو کې یې د ډېرې ستونزې ګاللي دي، ترڅو چې مونږ یې د دې کتاب د لیکلو جوګه کړو.

د هېواد ټولو زده کړندویانو او زده کوونکو ته، چې د علم او پوهې ترلاسه کولو لپاره په پوره زغم سره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کوي

په درنښت

شمس                                        عزیزي


عزت الله
Fb: Ezatullah.sultanzai

# د دې اثر په باب څو ټکي

**قدرمنو لوستونکيو!**

دا چې زمونږ ټولنه کې له يوه پلوه د ماديا تو په ځغاسته کې تر نورو پرمختللو ټولنو وروسته پاتې ده، همدا شان د پوهانو او د هغوی ارزښتمنو ويناوو نيمګړتيا مو هم د ژوند په هر ډګر کې له لمنې رانيسي او ويده احساس مو ننګوي، سره له دې که څه هم په دې وروستيو کې زمونږ ډېر ليکوالو او ژباړونکيو هم دې لور ته پام راواوښتی دی، چې د دوی د هلو ځلو په پامنيوي د پښتني ټولنې راتلونکي يو څه روښانه بريښي.

درنښت

- داسې وينا کله هم مه کوه، چې د اوريدونکي له فکر څخه پورته وي.
(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- وړاندې له دې څخه چې بوډا شې علم حاصل کړه.
(حضرت عمر رض)

- د ميلمه په وړاندې چاته غصه مه کوه.
(حضرت لقمان عليه السلام)

- دغه دوه خصلتونه ډېر بد دي؛ زيات شومتوب او ډېر بې زړه توب.
(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- خلک د خلکو په وړاندې مه رسوا کوه.
(حضرت لقمان عليه السلام)

- د آخرت غوره توښه تقوى او ځان ساتنه ده.
(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د هغه علم لټه وکړه؛ چې د مرګ په وخت او په آخرت کې دې په کار راشي.
(امام غزالي رحمه الله)

- صدق امانت دى او کذب خيانت.
(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- نيک عمل په ښه نيت سره نيکمرغي ده.
(امام جعفر صادق رحمه الله)

- د علم په واسطه د ناپوهۍ لمن تولول غوره کار ده.
(امام غزالي رحمه الله)

- رښتينى عالم د هر چا په زړه کې دوست او محبوب وي.
(حضرت علي رضي الله عنه)

- که درس زده کول غواړې، د زمانې نه يې زده کړه.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- نا اهل ته علم ښودل په حقیقت کې د علم حق ضایع کول دي.

(امام شافعي رحمه الله)

- مشغولتیا که زحمت زیږوي، خو بې کاري فساد زیږوي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د ژوند هره ورځ وروستۍ ورځ وګڼه

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- دانسان تر ټولو لویه کامیابي داده؛ چې خپل زړه او ژبه په خپل واک کې ولري.(امام غزالي رحمه الله)

- د وخت قدر او درناوی کوی، ځکه وخت هېچا ته انتظار نه کوي.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- څوک چې درواغ وايي الله تعالی ته ډېر ناخوښ دی.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- د غیرت خاوند هېڅکله هم بد کار نه کوي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- حکمت لس ډوله دی؛ نهه يې چوپتیا او لسمه يې د ویناوو کموالی دی.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- د خپل نفس د غوښتنو مخالفت کول په حقیقت کې د الله تعالی سره دوستي ده.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- چا چې علم د دې لپاره حاصل کړ چې دنیا پرې وګټي نو هغه باندې به د جنت هوا هم ونه لګیږي.

(حضرت محمد رضي الله عنه)

- دنیا پرستان هغو ته پاته کیږي چې هرڅو مره د سیند او به وڅښي، هماغومره تږي کیږي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- د حيا کالي واغوندئ چې ټول عيبونه مو پرې پټ شي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د بې عقله په لاس سوال ځواب ليږل خپلې پښې په تبر وهل دي

(حضرت سليمان صلی الله عليه وسلم)

- تلوار کوونکئ به ضرور له زيان سره او صبر کوونکئ به له برياليتوب سره مخامخ کيږي

(حضرت علي رضي الله عنه)

- حقيقي مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس له شر څخه په امن وي

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- څوک چې په نصيحت عمل ونه کړي يو ه دې شي چې د هغه زړه له ايمان نه خالي دی. (حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- هر شي يو ه ښکلا لري د نيکي ښکلا دا ده چې سمد ستي و شي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- کامل مومن هغه څوک دی چې د ښه خوی خاوند وي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- اميد وار اوسه، ځکه چې نا اميدی مرګ دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- څوک چې ډيرې ټوکې کوي د هغه ادب او حيا کميږي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- دٔ قبر خوښي د هغو خلکو ده چې دنيا ورته زندان ښکاري

(حضرت عثمان غني رضي الله عنه)

- رښتينئ ورور او دوست مو هغه دی، چې درته نصيحت کوي

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- هرڅوک چې د خپلې روزۍ د پراخۍ او د عمر د اوږدوالي او برکت خوښونکی وي، نو خپلوانو سره د ښېګنه وکړي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- په ځان باور د نیکمرغۍ د تاداو لومړۍ خښته ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د انتقام خوشحالي له یوې دقیقه زیاته نه وي، مګر د بښنې خوښي ابدي وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- بې عقله ته په غوږ کې د پند خبره مه کوه، ددې پر ځای چې عمل پرې وکړي ښایي د سپېڅلې ویناوو سپکاوی وکړي

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- که ښه شهرت او د علم زده کړه غواړئ نو د ناپوهانو او بد عملو نژدې‌توب مه کوئ.

(حضرت ادریس علیه السلام)

د دنیا پر نعمتونو مه نازېږه، څه معلومه ده که همدا نن شپه مو ژوند درنه وغوښتل شي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- د عقل په څېر هیڅ دولت نشته او د جهالت په څېر هیڅ غربت.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- ځوانمردي د ځان عادت وګرځوئ.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- د بدۍ په بدل کې نیکي کول احسان دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- شریف او نیک انسان متواضع او شریر متکبر وي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د انسان شرافت په عقل او ادب کې دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- له شرک څخه وروسته لویه ګناه د مور او پلار نافرماني ده.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- هوښیار هغه دی چې مرگ یې په یاد وي او د هغه لپاره تابیا نیسي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

ېوه هغه دی چې په ډېر دقت او احتیاط سره گامونه اوچت کړي

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- د رښتیني ایمان نښه داده. چې د وېرې په حالت کې د حق خبره وکړئ

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د علم په زده کړه کې شرم مه کوی، او نورو ته په ښودلو کې بخیلی.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

- لږه وینا حکمت. کم خواړه صحت او لږ خوب عبادت دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- حقیقت دا دی چې انسان ډېر ضعیف او ناتوانه دی، د حیرانتیا خبره دا ده چې هغه څنگه د یو ډېر زورور او قوی الله نافرماني کوی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- دنیا پرست نه علم ورښودل. په حقیقت کې د غله په لاس توره او وسله ورکول دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- ښه عمل هغه دی چې له خلکو څخه یې د ستاینلو تمه ونه شي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- چې په خپلو گناهونو اقرار کوی، او بیا تری ځان ساتي په هغه باندی د خدای تعالی رحمت اوری.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- رښتیا امانت او دروغ خیانت دی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د بیکاره سړی دماغ د شیطان خونه ده. له کار کوونکی سړی څخه شیطان لیری تښتي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- څوک چې په خلکو باندی زړه سوی ونه کړی. خدای تعالی به په هغه

باندې مهرباني ونه کړي.

(حضرت محمد رضي الله عنه)

- د طمع کوونکي پر غاړه د مريي توب رسۍ پرته ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- نيمګړی علم د فساد سبب ګرځي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ملګري ته د راز خبره مه کوئ کېدای شي سبا ستاسو دښمن شي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د هر شي لپاره عزت وي او د زړه عزت دا دی، چې د الله تعالی څخه راضي وي.

(امام احمد بن حنبل رحمه الله)

- اخلاق د انسان لپاره توي لاري برسيره کوي.

(امام شافعي رحمه الله)

- لکه باران چې وچې ځمکې لمدوي، دغه راز له عالمانو سره ناسته ولاړه د سړي زړه تاند او رونوي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د جګړې په ورځ دې د ننګ لمنه د تيښتې په شرم مه ککړوه، او که بری دې بيامومند، نو د چا درمند ته اور مه اچوه.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د علم په واسطه د ناپوهۍ لمن ټولول غوره کار دی.

(امام غزالي رحمه الله)

- د سړي ورتيا د هغه تر ژبې لاندې پټه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د توري زخم پر بدن باندې وي؛ خو د بدې خبرې زخم پر روح باندې وي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- که غواړئ چې ستر سړي شئ نو پوهه ترلاسه کړئ.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- خپل ځان لوی ګڼل په حقیقت کي له اللهتعالی سره دوښمني کول دي، ځکه د لویې ښښتن او لایق یوازې هغه اللهتعالی دی.

(امام غزالي رحمه الله)

- په خلکو باندي به داسي وخت راشي چې په مال پیدا کولو پسی به هڅه کوی، خو دا به نه ګوری چې حلال دی او که حرام

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- نېک او غوره اخلاق دا دي، چې د اعمالو بدله ونه غواړي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- اړتیا عقل کمزوری کوي.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- تش لاسي او تنګسه د دنیا او آخرت مختوره پانګه ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- په ټولو زحمتونو کې ګټه او فایده نغښتې ده.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- چوپتیا خپل شعار جوړ کړه، چې د ژبې له شر نه خوندي شې.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- تل خپل عقل نیمګړی او کم ګڼه، ځکه په خپل عقل اعتماد او باور ضرور د غلطیو سبب ګرځي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- څوک، چې د خلکو حق ونه پېژني د الله تعالی حق نه پېژني

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- له شرک څخه سربېره د هر یوې ګناه د ښښنې امید شته دی.

(امام شافعي رحمه الله)

- کینه ګرو او دښمنانو سره مو مینه وکړئ، څوک چې پر تاسو لعنت وایی قدر یې کوئ، څوک چې تاسي ځوروی ورته دعا وکړی، او غلیمانو سره مو ښیګڼه کوی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- ژر ژر او بې ځایه مه قهرېږه او چا ته بده خبره مه کوه چې بده وانه وری او خوږ وخت دی تریخ نه شي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- څوک چې له پیسو نه تیر شي هغه د خدای تعالی پرهیزگار او خاص بنده دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د ملگرې په نیمگړتیاوو پسې مه گرځه، او کنه بې ملگرې به پاتې شي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- بهادر انسان هغه دی، چې د گناهونو څخه پاک وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- په لویو کورونو کې په عمومي توگه واړه خلک پیدا کیږي، او په کوچنیو کورونو کې ستر خلک پیدا کیږي.

(امام رازي رحمه الله)

- یو هیوه داسې گل ته ورته ده، چې څومره غوړیږي هومره خوږې وږمې خپروي.

(امام شافعي رحمه الله)

- بې گټې خلکو سره مه کینئ ځکه دوی سره ناسته زړه توروي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- د نن وخت خلک یوائې د خلکو د عیبونو په لټون اخته دي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- سرلوړي په تقوی، مال او دولت په توکل او لویي په تواضع کې ده.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د سړي عزت او سلامتیا په دې کې ده؛ چې له جگړو څخه ځان وژغوري.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- حلم او زغم د انسان اخلاق او سیرت ښایسته کوي.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

- د عالمانو ښکلا او ښایست په تقوی کې دی.

(امام مالک رحمه الله)

- کوم کار چې کوئ د الله تعالی د رضا لپاره یې کوئ.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- که ته له الله تعالی څخه ویرېږې؛ نو د هغه په په تصرفاتو کې خبره مه کوه.

(امام شافعي رحمه الله)

- پور لږ واخله چې آزاد او هوسا ژوند وکړې.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- نیکه وینا وکړه چې په هغې باندې وپېژندل شې او نیک کار وکړه چې د نیکانو په ډله کې وشمېرل شې.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- چا چې مشوره پرېښوده له هغه تباه شو.

(امام اوزاعي رحمه الله)

- رښتینی عالم د هرچا په زړه کې خوښ وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- علم د زړه د حالاتو د پېژندلو نوم دی.

(امام غزالي رحمه الله)

- ټولې نیکۍ له حیاء او ټولې بدۍ له بې حیایۍ سره تړلې دي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- ځوانی تر زړښت او ژوند تر مرګ وړاندې غنیمت وګڼې.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- خدمت هغه ګل دی، چې هیڅکله خزان پرې نه راځي.

(حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه)

- د عالمانو د ټول علم سرمایه دوه شیان دي؛ د عقیدې سمون او رښتینی خدمت.

(امام شافعي رحمه الله)

- د ژبې ښوئيدل د قدم تر ښوئيدو ډير مضر تماميداى شي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- پام کوه چې د دوستانو دښمنانو سره دې دوستي ونه کړې.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- بده وينا درې کسانو ته زيان رسوي، وينا کوونکي ته، د چا بد چې وايي او څوک چې ورته غوږ نيسي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- په لمانځه کې د زړه، په مجلس کې د ژبې، په غوسه کې د لاس او په دسترخوان کې د ګېډې ساتنه کوئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- بې علمه عمل بې ساه جسد دى.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- فکر او عقل دوه لوى لوى دريابونه دي، حکمت او پوهه ملغلرې دي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ښکاره دښمني د منافقۍ له دوستۍ څخه ډيره ښه ده.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- هر بې علمه عمل يو رنځ وګڼې او هر بې عمله علم يو بې ګټې څيز.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- ځينې وخت د جرم بخښل مجرم ته نور جرئت ورکوي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- څوک چې ديني علم د ناوړه استفادې او د خلکو د پام را اړولو او شهرت غوښتلو لپاره زده کوي، ځاى به يې دوزخ وي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- کينه د سړي قدر ورکوي، حاسد هر چا ته سپک ښکاري.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- علم د پيغمبرانو ميراث دى او شتمني د کافرانو، (فرعون او قارون)

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- علم داسې دریاب دی چې څو مره اوبه ترینه استعمالوی کمبوت نه کوی.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- ښیګڼه پخپله د انسان ستاینه کوی او غوره پایله لری.

(حضرت حسین رضي الله عنه)

- دښمن یو هم زیات دی او دوستان ډیر هم کم دی.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

- که تاسو د نورو اشتباهات وبخښی نو الله تعالی به ستاسو نیمګړتیاوی عفو کړی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- د اسلام مقدس دین هیڅکله هم چاته د دي اجازه نه ورکوي؛ چې د حلال رزق د لاسته راوړلو څخه دي ارام کیني.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د علم په مرسته د انسان وحشت او ډار اچونه له منځه ځي.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- د الله تعالی د ټولو نعمتونو بشپړ شکر د انسان په وس پوره نه ده.

(حضرت ادریس علیه السلام)

- عفو او تیریدل د آزادو خلکو خویی دي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د اړمن اړتیا پوره کول د یوی میاشتی تر اعتکاف ډیر ثواب لری.

(حضرت حسن رضي الله عنه)

- که چیرې خلک تا په هغه صفت موصوف کړي، چې ته يې وړ نه يې ته مه مغروره کیږه ځکه د ناپوهانو په وینا هیڅ کله هم له تیرې څخه زر نه جوړیږي.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- کړاوونه وزغمئ ځکه دا ستاسو د ګناهونو له امله پر تاسو راځي.

(امام ابوحنیفه رحمه الله)

- تیره ورځ تیره ده، سبا لا مالومه نده، نو د دی دوه ورځو په منځ کې چې نن

ورځ ده باید غنیمت وګڼل شي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د چا سره چې ځان مننه او ځان غوښتنه پیدا شي، هغه بربادیږي

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- څوک چې مو بد ایشي د هغه له ضرر څخه ځان وژغوری.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د ښځې حکمت کور ودانی ده.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- څوک چې د امانت مراعات نه کوی کامل مومن ندی، همدغه راز څوک چې په خپله وعده وفا نخ کوی، هم د کامل دین خاوند ندی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- کله چې صحیح حدیث په لاس درغی نو زما وینا پریږدئ.

(امام شافعي رحمه الله)

- الله تعالی تاسو ته دنیا یوازی ددی لپاره درکړی ده چې آخرت پرې وغواړی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- څوک چې د حیا جامی واغوندی، د هغه عیبونه هیڅوک نه وینی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- کوم شخص چې تاته ووایی، چې ته ښه سړی یې او ته پرې خوشحاله شې، نو پوه شه، ته ډیر بد سړی یې.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- کله چې مداحان (چاپلوسان) وینئ نو مخونو ته یې خاوري وشیندی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د نیک اخلاقو ثمره او میوه خوشحالي ده.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- سړی په دری ډوله دی: کامل، کاهل، لاشی

**کامل:** هغه څوک دی چې د خلکو په سلا او مشوره کار کوی.

**کاهل**: هغه څوک دی چې په خپل فکر کار کوی او له چانه سلا او مشوره نه اخلی.
**لاشي**: هغه څوک دی چې په خپله هم نه پوهیږی او له چا نه مشوره هم نه اخلی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- په هیڅ مومن کې دغه دوه خاصیتونه نه یوځای کیږی؛ بخل او ناوړه خوی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- کوم کار چې د الله د رضا لپاره کوی په هغی کې له انسانانو ویره مه کوئ.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- په زغم کې هیڅ تاوان نشته او په ژړا کې هیڅ گټه

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- ځان ښودنه (ریا) د ثواب جرړی وباسی او اجر له منځه وړی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- له هغه خلکو نه مشوره کوئ چې د الله تعالی نه ویریږی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- گناه په یوه نه یو ډول زړه بی قراره کوی او ډاډ له منځه وړی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- د ملک بقا په کفر کې شونی ده خو په ظلم کې نه

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ستاسو لپاره د خیر خبره همدغه ده چې له شره ځان وساتی.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- څوک چې له علم سره مینه ونلری هغه هیڅ ښه والی نلری.

(امام شافعي رحمه الله)

- زمانه (وخت) تر کتابونو ښه لارښود ده.

(حافظ شیرازي رحمه الله)

- د ناکاره خلکو له دوستی نه ځان وژغوری، ځکه چې له هغوی سره د

ملګرتيا پايله له خپګان او درد نه پرته بل څه نه ده.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- هرڅوک چې په خداى تعالى او آخرت ايمان لري نو ښايي چې خپل ګاونډي ته ضرر ونه رسوي، د خپل معلمه احترام وکړي، او کله چې خبرى کوي پرته له حق، خير او عامو ګټو څخه بل څه ونه وايي او که نه نو پټه خوله دي و اوسي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- که څوک له تاسو سره ښيګړه کوي که بد ګړه خو تاسو له هر چا سره نيکي او احسان کوئ.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- پاکي د ايمان يوه برخه ده.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د صبر ونه يې په جنت کې نيال کړي او د کوثر اوبه يې ورته ورکړي دي، ددي ونې خوږې ميوې ته ظفر او عزت وايي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- داسې کار وکړئ چې که خلک مو وويني چې پرې خجالت نشي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- الله تعالى انسانان د ځان لپاره پيدا کړي دي ځکه نو نه ښايي چې هغوى د بل چا شي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- مه په قهرېږه چې قهر خفګان راولي، حليم او پوست اوسه چې حکيمانه حلم يو خواخوږي ملګرى دى چې انسان ته د خير لاره ښيي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د ژبې ساتنه ثواب دى.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- څوک چې په خدای تعالی باور لري، د هغه ټولی هیلی په خدای تعالی دی او له خپلی ګناه څخه پرته له هیڅ شی څخه نه ډاریږي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- کله چې یو سړی بل ته پور ورکړی نو د پوروړی سوغات د نه قبلوی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- هر ښه کار په پیل کې ناشونی وی.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- له مرګ سره ډغره ووهئ، چې ژوند مو په برخه شي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ښکاره دښمنی د منافقی له دوستی څخه ډیره ښه ده.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- د میلمه په ویاړ ډیر لګښت په اسراف کې نه راځی.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- ټیټه وینا، ښکته کتل او منځنی راشه درشه د ایمان نخښی دی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- ډیره خندا ژوند لنډوی او له مرګ نه د بی پروایی نخښه ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- اوښکی د هغی ورځی په تیریدو تویوی چې بی ښیګړی مو تیره کړی وی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- په کوم نعمت کې چې شکر وی د هغی پای نشته او په کوم نعمت کې چې ناشکري وی د هغی پاینت نشته

(حضرت لقمان علیه السلام)

- د بی عمله عالم مثال د هغه ړوند په څیر دی چې څراغ په لاس کې واخلی خلک یی د رڼا نه ګټه پورته کړی او په خپله په تیاره کې پاتی شی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- له ناپوهانو سره ډېره ناسته ولاړه مه کوئ چيرې تاسو به هم جاهلان کړي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د الله تعالى له ذکر نه پرته ډېرې خبرې مه کوئ، که نه نو زړونه به مو سخت شي، سخت زړې د الله پاک نه ډير لرې وي.

(حضرت عيسى عليه السلام)

- د کړو وړو د ښه کولو لپاره تر ټولو لومړی د نيت ښه کول دي.

(حضرت ادريس عليه السلام)

- مينه د لوړتيا زينه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- څوک چې بد خويي کوي، هغه په لوی لاس خپل ځان کړاوونو ته سپاري.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- هيڅوک به له تاسي څخه جنت ته داخل نه شي، څو چې د کامل ايمان خاوندان نه شئ، او د کامل ايمان خاوندان نشی کېدای څو چې په خپل منځ کې مينه او ورور ولي ټينګه نه کړي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د قهر او غضب په وخت کې ښه دوا چوپ پاتې کيدل دي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- که پر غليم مو لاس بر شي نو د برلاسي شکر په عفوی سره پر ځای کړئ.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- عالم ناپوهي ته جهالت وايي او جاهل علم ته

(امام شافعي رحمه الله)

- ناپوهانو ته د هغوی د بی باکه خبرو ځواب مه ورکوئ، هسې نه چې تاسو هم د هغوی په څير شی.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- په مسلمانانو کې ښه کور هغه دی چې په هغه کې يتيم وي او ښه ورسره وکړي، او بد کور هغه دی چې په هغه کې يتيم سره ناوړه رويه کيږي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- زه خو د ځان لپاره دا ډېره بده او مکروه ګڼم چې ورځ دې راباندې تېره شي او د قرآنکريم تلاوت پکې ونه کړم

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- که په انسان کې لس خويونه ښه او يو بد وي نو دغه يو ناسم خوی د هغه نهه سم خويونه په اوبو لاهو کولای شي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- رښتيا امانت او دروغ خيانت دي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- په ستونزو کې زغم د برياليتوب کيلي ده.

(حضرت حسين رضي الله عنه)

- علم هغه نه دی چې ياد کړای شي، بلکه علم هغه دی چې ورڅخه ګټه واخيستل شي.

(امام شافعي رحمه الله)

- لږ خواړه د رنځونو دوا او په ډکه ګېډه خوراک د ناروغيو مور ده.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- غوره کمال ادب او ښه عبادت صدقه (ورکړه) ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- توره بدن تپي کوي او بده وينا روح.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- له چانه مو چې کرکه کېږي د هغه له ضرره ځان وژغورئ.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- يو کپ ډوډۍ او ساده جامې که په سلامتيا سره ترلاسه شي، نو تر هغه عيش او عشرت ډېر غوره دي چې پښېماني او سپکاوی ورسره ملګری وي.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- که د ژبې له زيان نه ځان ژغورل غواړئ نو چوپ (غلي) اوسئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- په دنيا کې د ميلمنو په څير ژوند تير کړی، چې نه کور لري او نه اور.
(حضرت عيسی عليه السلام)

- پوه سړی علم خوښوی او لږه وينا کوی، ناپوه هم چې چوپ وی هوښيار ګڼل کيږي.
(حضرت سليمان عليه السلام)

- د نفس او هوس تينګه ځارنه کوی که نه نو بد مرغی به مو په برخه شي.
(حضرت ادريس عليه السلام)

- الله او مرګ هيڅکله له ياده مه باسئ، خپله ښيګڼه او د بل بدګړه هيره کړئ.
(حضرت لقمان عليه السلام)

- د ظالم بخښل له مظلومانو سره ظلم دی.
(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د څراغ له رڼا نه ګټه واخلی او دی ته مه ګوری چې د چا په لاس کې ده.
(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- ما په نوو جامو کې مه ښخوی ځکه د نوو جامو د اغوستلو ور ژوندی او بربنډ خلک دی.
(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د انسان ستر دښمن د هغه ګناه ده.
(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- له ظالمانو سره اړيکی ساتل پخپله يو جرم دی.
(حضرت حسين رضي الله عنه)

- په ګوښی توب کې نصيحت کول د اصلاح سبب ګرځي او د خلکو په مخکی د رسوايی باعث.
(امام شافعي رحمه الله)

- وروسته له دينی فرايضو نه د مسلمان فريضه حلال کسب دی.
(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- څوک چې د دښمنۍ تخم کري، هغه به ريبي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- لويي له عقل سره وداع کړې ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د علم زده کړه تر ټولو ښه او غوره صدقه ده.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- زه د مړو د ژوندي کولو نه نيم عاجز شوي، خو د احمقانو او ناپوهانو په اصلاح او لارې ته راوستلو کې پاتې راغلی يم.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- په هر مسلمان د علم زده کړه فرض ده.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- الله تعالی هميشه له ځان سره ګڼل غوره ايمان دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- قناعت هغه شتمني ده چې هيڅکله پای ته نه رسيږي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ترڅو مو چې توان وي جنګ او دښمني مه جوړوئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- آيا تاسو ته هغه کار در وښيم چې په کولو سره يې ستاسې په منځ کې مينه او ورور ولي ټينګيږي، هغه يو بل ته سلام ورکول دي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د حيرانتيا خبره ده چې تاسو د دنياوي ژوند لپاره دومره تنکسې ګالئ حال دا چې څه درته په تندي کې ليکل شوي وي هم هغه در رسيږي، خو د آخرت لپاره هيڅ هم نه کوي چې هلته بې زحمته راحت نشته.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- په خپله هم نيکي کوی او نورو ته هم د نيکۍ تلقين کوی.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- لويي په تقوى کې، دولت پر توکل کې او سرلوړی په تواضع کې ده.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- الله تعالى هر وخت له ځان سره ګڼل تر ټولو غوره ايمان دی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- دوه نعمتونه دي چې ډير خلک يې قدر نه پيژني؛ يو صحت، بل فراغت.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- څوک چې د ژوند له اړتياوو نه پرته د نورو شيزونو د لاسته راوړلو حرص لري، نو هيڅکله به د ډاډمن او قانع ژوند څښتن نشي.

(حضرت ادريس عليه السلام)

- ډير اوري او لږ غږيږي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- سخي د الله تعالى دوست دی که فاسق هم وی، او بخيل د الله تعالى دښمن دی که زاهد هم وی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د چا علم چې له مانه کم وی زړه مې پرې درد کوی، او چې د ډير علم خاوند وی کينه مې ورته په زړه کې نه راځي.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- څوک چې د دنياوی ګټې لپاره علم زده کوی دغه علم د هغه په زړه کې ځان نه نيسي.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- شتمني د مال ډيربنت نه ده، بلکې حقيقي شتمني د زړه شتمني ده.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د ښښنې فضيلت د قدرت په وخت کې معلوميږي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- په هر هغه مجلس کې چې د الله تعالى ذکر کيږي ګډون پکې کوی، او د بدانو له ناستې نه ځان ليری ساتئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- شک نشته چې د الله تعالی د بندګانو سره مینه کول له خپل رب سره مینه کولو ته وایی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- کله چې انسان مړ شي عمل یې قطع شی، خو د دریو څیزونو تل ثواب ور رسیږي او هغه دا دي؛ جاري صدقه، پوهه (علم) چې د خلکو د ګټې ور ګرځیدلې وي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- دروغجن ګواه ته الله تعالی د کرکې او نفرت په نظر ګوري او رښتینې ګواه ته هدایت او لارښوونه کوي.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- ای خلکو ! ولې مو دا انسانان د ځان غلامان کړي دي، حال دا چې دوی خپلو میندو آزاد او خپلواک زیږولي دي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- له میلمه سره د الله پانې په وخت تر دروازي پورې تلل سنت دي

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- په خیټه وږی خو په حکمت ماړه اوسئ.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- نیک عمله انسان د علم په زده کړه حلم او تواضع پیدا کوي، او بد خویه انسان ورسره د تکبیر په رنځ رنځور شي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د نیکۍ په مقابل کې نیکي د پور لنډول دي، خو د بدي په وړاندې نیکي کول احسان دي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- څوک چې یوه لویشت پردی ځمکه په ظلم واخلي، د قیامت په ورځ به دغه ځمکه تر اوومې طبقې پورې د ده تر غاړې را تاو کړای شي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د شتمنو دښمنان ډېر وي او د عالمانو دوستان.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د معدې د ډکېدو له امله د فکر قوت کمزوری او د حکمت او پوهې استعداد ګونګ پاتې کېږي.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- الله تعالی تر ټولو ښه غچ اخيستونکی دی.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

- د ميړانې (ځوانمردی) خاوندان د هوسا ژوند غوښتونکي نه بلکې له ربړو او کړاوونو سره مبارزه کوونکي وي.

(امام شافعي رحمه الله)

- تر هغې د چا په ښو اخلاقو باور مه کوی چې د طمع او غضب په وخت مو ازمويلی نه وي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- شهيد ته به هره ګناه وبخښل شي خو پردې دين(پور) به ورته ونه بخښل شي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- تعليم او تربيه د دنيا او آخرت د کاميابۍ وسيله ده.

(امام غزالی رحمه الله)

- عمل له علم څخه پرته داسې دی لکه په بدن کې چې روح نه وي.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- د ايمان پوره والی په جهاد کې دی.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- حيرانتيا ده هغو کسانو ته چې الله تعالی رښتينی ګڼي؛ خو بيا هم د نورو يادونه کوي او پر هغوی باور کوي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- په دنيا کې چې ډير لږ دي هغه رښتيا او امانت دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د رښتياوو دښمن درواغ دي.

(امام غزالی رحمه الله)

- هر ډول چې تاسي ياست، هماغه ډول په تاسی أمرین مقررېږي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د دين زده کول ستره پانګه او ويار منه شتمني ده.

(حضرت سليمان علیه السلام)

- له ظلم نه ځان وژغورئ، ځکه ظلم په سرئ د قيامت ورځ تياره کوي، له بخل او حرص څخه پرهيز وکړئ، ځکه بخل او حرص پخواني خلک تباه کړل او دوی يې د وينو د تويولو او د محرماتو حلال ګڼلو ته باعث کړل.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- که غواړې چې خپل واک پر خپل لاس کې وساتې، نو د زړه راز مه په ډاګه کوې.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- له الله تعالی نه پرته له هيچا طمع او ويره مه کوئ، يوازې له خپلو ګناهونو وډار شئ.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- څوک چې پر کوچنيانو شفقت ونه لري او د لويانو درناوی ونه کړي هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- نا اهله ته د علم زده کړه د علم ضياع ده او اهل ته يې نه زده کړه کول ظلم دی.

(امام شافعي رحمه الله)

- پر الله تعالی باندې د ايمان راوړلو ترڅنګ صبر کول په ټولنه کې د انسان د هوساينې او پرمختيا اسباب برابروي.

(حضرت ادريس عليه السلام)

- اميد وار اوسې ځکه چې مايوسي ګناه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ښځه او مېړه دوه نه بلکه يو جسم په څير دي، ځکه نو هغه څه چې الله تعالی غبرګ پيدا کړي انسان دې تر وسې وسې پورې نه ګوښه کيږي.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- صدقه د پاک خدای قهر او غضب کينوي او سړی له بدې مړينې بچ کوي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- که د غيبو د وينا د تور پروا مې نه کولای نو د غو پنځو تنو ته به مې په دنيا کې جنتيان ويلي وای؛ هغه اړمن چې بال بچ هم لري او صبر وکړي،

- هغه ښځه چې مېړه تری خوشحاله وي، هغه ښځه چې مېړه ته خپل مهر وبخښي، هغه ځوک چې مور او پلار تری خوشحاله وي، هغه ځوک چې د خپلو ګناهونو نه ريښتيانی توبه وباسي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د چا په بربادی خوشحالی مه کوی هسی نه چې سبا له تاسو سره هم همداسي وشي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- په خپله برخه قانع اوسی او د نورو په شتمنی مه خوا بدی کيږئ، نو د زړه د رنځ نه به په امان شی.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د نورو په آسوده ژوند کينه مه پيدا کوئ، ځکه چې د غه خوشحاله ژوند ډير نيمګړی او نيمه خوا دی.

(حضرت ادرس عليه السلام)

- هغوی چې د آخرت لپاره دنيا پريږدی، منلی نه دی بلکی منلی خلک هغه دی چې د دنيا او آخرت دواړو حق پرځای کړی.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- ايا تاسی له هغی ګناه څخه چې تر ټولو لويه ده خبر نه کړم؟

- هغه له پاک خدای تعالی سره شریک پیدا کول، د پلار او مور څورول، په دروغو شهادت یا دروغ ویل دي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- چا چې زما یو سنت ژوندی کړ، ګواکې زه یې ژوندی کړم.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- ډیر بد مرغه هغه څوک دي چې په خپله مړ شي خو ګناه یې ژوندی وي.

- (د یو داسې ناوړه عمل بنسټ یې اېښی وي چې د هغه تر مړینې وروسته هم ادامه پیدا کوي)

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- مرګ له ټولو نه رښتینی او امید تر ټولو دروغجن تصور دي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- تر ټولو خوار کسب هم د لاس غځولو (خیرات غوښتلو) نه ډیر فضیلت لري.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- که د دنیا ټولې ونې قلمونه او سیندونه دیواتونه شي نو انسان به د الله تعالی نعمتونه ونه شمیرلی شي.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- تقوی او ښیګړه د آخرت ښه توښه ده.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

- خوږه وینا د قهر او غضب د سړولو او له منځه وړلو بریمنه وسیله ده.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- له الله نه غافل نشی چې له تاسو نه غافل نه دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- چا چې زما په امت کې نفاق جوړاوه سر یې ووهی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- په ټولو زحمتونو کې اجر او ثواب نغښتی دی.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- په دنیا کې له خلکو سره راشه درشه په آخرت کې د نجات او بریالیتوب سبب ګرځي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- رښتیا خبره مه پټوئ او دروغ خبره له سره مه کوی.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- هر مسلمان چې نیالګی کینوی او یا کښت وکړی، نو له دغه ونې یا کښت څخه یې انسان، حیوان یا الوتونکی وخوری، نو دغه خوراک د ده صدقه ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- حکمت (دانایی) د روح غذا او د ژوند دوهم نوم دی.

(حضرت ادریس علیه السلام)

- پر ځوریدلو خلکو زړه سوی وکړئ او د نیکمرغۍ دعا ورته وکړی چې له ستونزو څخه نجات ومومی.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- مرګ تل په یاد ساتی، خو د مرګ آرزو هیڅکله مه کوی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د هر شی د ثواب پیمانه موجوده ده؛ خو د صبر او زغم د ثواب اندازه نشته

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د قیامت په ورځ به د قدر او منزلت له مخی تر ټولو ټیټ او بد سړی هغه څوک وی چې له علم څخه ګټه نه اخلي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- څوک چې د نورو لارښوونکو ویناوو او نیکو مشورو ته غوږ ږدی پوه او هوښیار بلل کیږی.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- څوک چې په دنیا کې د یوه مومن سختي آسانه کړی، پاک خدای تعالی به په آخرت کې د ده سختي آسانی کړی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د بد عمله خلکو د مرکې نه ګوښې توب او له ګوښې توب نه له عالمانو سره ناسته ډیر ثواب لري.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- تر ایمان وروسته ستره پیرزوینه نیک خویه ښځه ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- خپل پیتې پر بل مه اچوی که لږ وی با ډیر.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- څوک چې د لاس تنګی (اړ) سره آسانې وکړه، خدای تعالی به د ده سره په آخرت کې آسانې وکړي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د زړورو خلکو کار عفوه ده؛ ځکه نو که کوم بیوزلی هم له تاسو سره تیری وکړي، غچ تری مه اخلی.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- چې کینه درسره کوی مینه ورسره کوئ، چې بد درته وایی قدر یې کوئ، چې ځوروی مو دعا ورته کوئ.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- څوک چې د مسلمان عیبونه پټ کړي، پاک خدای تعالی به په دنیا او آخرت کې د هغه عیبونه پټ کړي،

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- پوه او عاقل هغه دی چې غضب ورباندې ژر او نابېره یرغل ونه کړي.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- له پوهانو سره ناسته ولاړه غوره کړي، دا کار په ربړو او ستونزو کې له تاسو سره مرسته کولای شي.

(حضرت لقمان علیه السلام)

- هره ښېګڼه صدقه ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- طمع بېوزلي، د زړه غنا ، بډايي او غچ نه اخيستل زغم دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- څوک چې د انسان حق ونه پېژني هغه ګواکې د الله تعالی حق نه دی پېژندلی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- لمونځ د الله تعالی د رضا حاصلولو غوره وسيله ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- خدای تعالی له خپل بنده سره مرسته کوي، ترڅو چې د خپل ورور سره مرسته کوي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- څوک چې د دين علم د علماوو سره د مقابلې کولو او يا د ناپوهانو سره د مجادلې لپاره او ځان ته د خلکو د پام را اړولو په خاطر زده کوي، نو پاک خدای تعالی به يې په دوزخ کې داخل کړي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- مومن هغه دی چې د آخرت لپاره زيرمه برابره کړي، او کافر هغه دی چې د دنيا له عيش او نوش نه ځان قربان کړي.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

- په هوښيارتيا کې ډېره هوښياري تقوی او په نيمګړتياوو کې لويه نيمګړتيا بداخلاقي ده.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

- خواخوږی دوست هغه دی چې خپلو نيمګړتياوو ته مو متوجه کړي او چې مخامخ مو ستاينه کوي داسې وانګيرې چې ګوندې حلالوي مو.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- چا چې د زړه راز نورو ته څرګند کړ هغه ناپوه او چې ترپايه يې پټوي هغه هوښيار دی.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- سفرونه (يونونه) دوه ډوله دي يو د دنيا او بل د آخرت، د دواړو لپاره

زيرمې ته اړتيا وي خو د دنيا په سفر کې توښه له ځان سره ساتل کيږي او د آخرت په سفر کې د تلو نه مخکې استول کيږي.

(حضرت عيسى عليه السلام)

- عاجزي او تواضع په ظاهري حرکاتو پوري نه بلکه په زړه پوري اړه لري.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- له احمقانو او ناپوهانو سره انډيوالي مه کوئ، دا په ستونزمن وخت کې ستاسې ربړې او کړاوونه لا زياتوي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د ژمنې پوره کول هم ميړانه (ځوانمردي) ده.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- هر ښه کار صدقه ده، له ښو کارونو څخه يو دا دى چې ورين تندى د خلکو هرکلى وکړي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د چا په زړه کې چې يوه زره ايمان وي، دوزخ ته به ولاړ نه شي د چا په زړه کې چې يوه زره کبر وي جنت ته به ولاړ نشي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- کله چې حلال او حرام يوځاى کيږي نو حرام که لږ هم وي نو درانه او غالب وي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- په هغه ورځ وژاړه چې ستاسو له عمر نه کمه شوه او الله مو پکې ياد نه کړ.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- له هيچا څخه طمع او توقع مه کوئ او هرڅه چې الله تعالى درکړي، پر هغې باندې قناعت او بسنه وکړئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- څوک چې د خپل ورور له حقونو څخه د سه په غیاب کې دفاع کوي، پاک خدای تعالی به یې د دوزخ له اوره وساتي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- کینه د سړي جسم ویلی کوي او قناعت بدن ته نوی قوت ورېخښي.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- په رزق پسې ډېرې منډې مه وهئ، د هوا مرغیو ته وګورئ چې نه کښت لري او نه کرخو بیا هم الله تعالی خپله برخه په ډېره آساني سره وررسوي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

- له غلا او خیانت نه ډډه وکړه، ځکه دا عملونه فقر او لوږه رامنځته کوي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- که چیرې مو ګناه تته زړه وی نو داسې ځای ولټوی چې اللهتعالیهلته نه وي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- تر ټولو لویه بلا د مصیبت په وخت کې ویره ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ستاسې یو تن هم تر هغې پورې پوره ایماندار کېدای نه شي تر څو یې خپله خوښه او خواهش د هغه څه تابع کړي نه وي چې ما راوړي دي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- بیړه (توندي) کول ناپوهي ده او همدا د انسان ستره نیمګړتیا ده.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

- یتیم هغه دی چې علم نه لري او غریب هغه دی چې عقل نه لري.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- دغه درې څیزونه په ټولنه کې د مینې او الفت د زیاتیدو سبب ګرځي؛ سلام اچول، په مجلس کې نورو ته ځای پرېښودل، مخاطب په ښه نوم سره یادول.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- تاسې د امارت (منصب) ترلاسه کولو لپاره حرص کوي، حال دا چې دغه

امارت به د قيامت په ورځ د رسوايي وسيله وي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-دروغ هيڅ وخت په رښتياوو برى نه شي موندلاى.

(حضرت سليمان عليه السلام)

-هر چاته د هغه د هنر او جوهر په اندازه مقام ورکړی له افراط او تفريط نه ډډه وکړئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

-خوار او بې وزله هغه څوک دی چې په دنيا کې دوست او ملګرى ونلري.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

-درې څيزونه د انسان د هلاکت سبب ګرځي؛ تکبر، حرص او حسد (کينه).

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

-د بد اخلاقو له ملګرتيا نه ډډه وکړئ که درسره ښېګنه کول هم وغواړي نو بدي ترې کيږي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

-جماعت رحمت دى او جدايي او فرقه واري عذاب دى.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-د بيوزلي او غريب يو درهم صدقه د شتمن تر سلو زرو درهمو صدقې نه ډير ثواب لري.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

-څوک چې په مجلس کې خبرې کوي او شاوخوا ته وګوري، نو دغه خبره امانت ده، او د مجلس خلک يې بايد افشا نه کړي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-پښېماني ګناه محوه کوي او غرور د ښېګړو جرړې اوباسي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-زړه ور هغه دی چې د سختی په وخت کې د صبر او زغم لمن پرېنږدي او په تنګسه کې له ګاونډي سره مرسته وکړي.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

- څوک چې د خپل امير له اطاعت نه يوه لويشت هم ووځي، نو هغه به د جاهليت په مرګ مري.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- دعا د عبادت مغز دی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- دنيا غوښتونکي ته دعلم ورښودل پرلاره شکوونکي باندې د توري پلورل دي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- که غواړې چې هوسائي مو په برخه شي نو خپله ژبه د شکايت او ګيلو نه لرې وساتې.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- له سړي سره درې شيان تر ګوره ملګرتيا کوي؛ د کور خلک، مال او عمل، له ځښنيدلو څخه وروسته د کور خلک او مال بېرته ورځنې را ګرځي او يوازې عمل ورسره ملګري پاتې کيږي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د دنيا ژوند د آخرت د مسافرو لپاره د يو سراى په حيث وګڼې خپله توښه واخلې او د هغه ځه تکل مه کوې چې په سراى کې دې.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- غوره ويناوې او متالونه د پوهانو او پند اخيستونکو لپاره دي، ناپوهانو ته د دې هيڅ ګټه نشته

(حضرت علي رضي الله عنه)

- په هر کار کې فکر وکړه، که د کار پاى ښه درته ښکاره شو هغه پرمخ بوځه، او که نه نو ډډه تري وکړه.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

-که ښو خوړو ته مو زړه کيږي، نو دا هم په ياد ساتې چې يوه ورځ به د چينجو او حشراتو خواړه ګرځې.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

-ژوند ساده او بسیط تیر کړی که نه د قیامت په ورځ به د حساب له امله د ستونزو او خپګان سره مخامخ شي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

-د دښمن په ښه سلوک باور مه کوی، اوبه که تر اوره هرڅومره تودی شي بیا هم د اور د مړ کولو توان لري.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-د هغه چا په حال ډیر افسوس دی چې دنیا فاني ګڼي او مینه ورسره کوی، دوزخ حق ګڼي او ګناه کوی، مرګ رښتیا بولي او بیا هم خندا کوی، تقدیر پیژني او د تلونکو څیزونو اندیښنه کوی،

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

-هیڅ مسلمان ته نه ښایي چې د رزق د پیدا کولو لپاره کښیني او دعا وکړی چې الله ما ته رزق راکړه ځکه تاسو ته څرګنده ده چې د آسمان نه سره او سپین نه راوریږي، «د توکل تر څنګ عمل او حرکت ته هم اړتیا ده».

(حضرت عمر رضي الله عنه)

-بی عمله قول او بی نیته عمل اعتبار نلري او هغه نیت ارزښتمن دی چې له سنتو سره سم وی.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

-خوشحاله ژوند د هغه چا په برخه وی چې د ژوندنیو اړتیاوو لپاره پر نورو خلکو تکیه نه کوی.

(حضرت امام حسن رضي الله عنه)

-شکر د نعمت ساتونکی دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-د خدای تعالی په بنده ګانو کې ښه سړی د الله تعالی په حضور کې د مقام له حیثه عادل او نیک خوی واکمن دی، او بد سړی د خدای تعالی په حضور کې د مقام له حیثه ظالم او بد خوی واکمن دی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- د دنيا عزت په مال کې دی او د آخرت عزت په اعمالو کې.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د دنيا کړاوونه آسان وګڼه او مرګ هيڅکله مه هيروه.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- له تاسو نه غوره هغه څوک دی چې د ښو اخلاقو خاوند وي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- مرګ غوره نصيحت دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د پلار په زوی باندی دا حق دی چې د الله نافرماني څخه پرته نور په هر کار کې يې خبره ومنی، او د زوی په پلار باندی دا حق دی چې په غوره نوم يې ونوموی ښه ادب او روزنه ورکړي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- کوم کار چې نشی کولای، نو مسوؤليت يې هم پر غاړه مه اخلې.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- هر آمر، که څه هم په لسو تنو أمر وي د قيامت په ورځ به په ځنځيرونو کې تړلی حاضر کړای شی، او وروسته چې محاسبه ورسره وشی، نو که عدالت يې کړی وي، نو عدالت به ورځنی دفاع وکړي او که ظلم يې کړی وي، نو ظلم به يې هلاک کړي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- څوک چې د خلکو په کوم کار مقرر شی او خپله دروازه د مظلومانو او حاجت لرونکو پرمخ وتړي، خدای پاک تعالى به هم په داسی حال کې چې دی تر هر وخت ډير اړ وي، د خپل رحمت دروازه د ده پرمخ وتړي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- په علم سره زړه داسی ژوندی کيږي، لکه؛ په وچه ځمکه چې باران وشي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د هر قدرت خاوند او والي چې د مسلمانانو د کارونو واک په لاس کې ونيسی او د هغوی په حق کې خيانت وکړي پاک خدايتعالىبه جنت وربانده

حرام کړي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- زما امربالمعروف نهي عن المنكر او زوړ لباس اغوستل ډېر خوښ دي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- حرام کسب هغه ګناه ده، چې د بدی ادراک یې ممکن دی.

(امام غزالي رحمه الله)

- په پوه او هوښيار سړي غوسه ژر اغيزه نه کوي.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- لوړ همتي د ايمان نخښه ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- په دنيا کې د خلکو سره راشه درشه په آخرت کې د نجات او بريالیتوب سبب ګرځي.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- په علم زړه روښانه کيږي او مال کله ناکله د زړه د توريدو سبب هم ګرځي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ذليل هغه دی چې بخيل وی.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- د ژوند لپاره يو موخه (هدف) وټاکی او بيا يې په ټول توان سره د هغی د ترلاسه کولو هڅی پيل کړی، ښايی د بريالیتوب پړاو ته به ورسيږی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- عبادت يو مسلک دی ګوښی توب يې د ځان اصل پانګه يی تقوی ده او ګټه يی جنت دی.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- زه په تياره کور کې هم د غسل (د ځان پريمينځلو) په وخت د الله تعالی نه د شرم له ويری اريان دريان پاتی کيږم.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- له خلکو سره ښه چلند نيمايی عقل، ښه پوښتنه نيم علم او غوره تدبير

نیمایي اقتصاد دی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

-له پوهې او هوښیارۍ څخه ستر دولت نشته

(حضرت لقمان علیه السلام)

-تکړه دا نه دی چې په قوت کې حریف ته ماتې ورکړي، بلکې حقیقي تکړه هغه څوک دی چې د غوسې په وخت کې په خپل ځان حاکمیت ولري.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-عفوه کوونکی هغه دی چې د غچ اخیستلو توان ولري او له بخښنې نه کار واخلي.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

-د ناپوه ماغزه د هغه د ژبې تر شا او د هوښیار ژبه د عقل تر شا وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-غوره جهاد دا دی، چې له قدرت سره سره بیا هم انتقام وانخلي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

-په هر چا مه بد ګومانه کیږه ګنې په دنیا کې به هیڅ دوست او خواخوږی ونه مومې.

(حضرت لقمان علیه السلام)

-د سترګو په لید حاکمیت ولری له همدې نه په زړه کې شهوت پیدا کیږي او د فتنې د راولاړولو لپاره همدا کفایت کوي.

(حضرت عیسی علیه السلام)

-خپل ځان عقل مند مه ګڼې د الله تعالی نه وډار شې او له بدو نه لاس واخلې.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

-له دریو تنو سره به خدای تعالی د قیامت په ورځ د مهربانۍ خبري ونه کړي او نه به یې له ګناه پاک کړي؛ دروغجن پادشاه، زوړ زاني او خوار کبرجن

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- له تاسي سره تر محاسبې د مخه له ځان سره محاسبه وکړې.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- له حرامو کارونو څخه ځان ژغورل هم صبر دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- رښتيا هيڅکله هم د دروا غو په وړاندې ماتې نه خوري.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- زموږ د دين ټول ادب دی.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- څوک چې خپله ژبه له ناوړه خبرو څخه ژغوري، پاک خدای تعالی به يې عيبونه ورپټ کړي، څوک چې خپل قهر او غصه وزغمي پاک خدای تعالی به يې د قيامت په ورځ له عذابونو وساتي، او هر څوک چې پاک خدای تعالی ته عذر وړاندې کړي، عذر به يې ومنل شي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د سترګو ساتنه وکړئ، ځکه همدا د زړه دروازه دی او ټول آفتونه له همدې لارې بدن ته داخليږي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د ضرورت څخه پرته له کوره مه وځئ او په داسي ځای کې مه کينئ چې هلته زده کړه نه وي.

(امام مالک رحمه الله)

- هيڅ شی د خدای تعالی په وړاندې دومره غوره نه دی، لکه چې څوک خپل قهر د ده د خوښۍ په غرض وزغمي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- خدای تعالی د جمال خاوند دی او ښکلا خوښوي، کبر د حق باطلول او د خلکو تحقيرول دی که د فرات د سيند په غاړه د بزي يو بچی هم تلف شي نو ويريږم چې الله تعالی به يې له مانه پوښتنه کوي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- که مو سترګې بينا او غږيدلی وی نو هره ورځ د محشر ورځ ده.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- که جسم يوازی د مرګ لپاره وی، نو د الله تعالی په لار کې د شهادت ترټولو غوره عمل دی.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- د هيڅ انسان په زړه کې دوه خاصيتونه نه يوځای کيږی؛ [ايمان او حسد].

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- بی روزګاری اړتيا منځته راوړی، او اړتيا په ديندارۍ کې خلک اچوی، فکرته زيان رسوی او مروت (ميړانه) له منځه وړی.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- څوک چې د ظالم په ظلم پوهيږی او سره له دی د هغه د تقوی يی لپاره زيار باسی، د کامل اسلاميت له دايری څخه وتلی دی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د يو چا لمانځه او روژی ته نه بلکه د هغه ښو معاملو، انسانی خواخوږی، پوهی او رښتينولی ته ګوری.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د ايمان تکميل په جهاد، د روژی پوره والی په صدقه فطر، د حج نيمګړتيا په فديه او د لمانځه تيروتنه د سهوی په سجدی سره پوره کيږی.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- دری شيان نجات ورکوونکی او دری شيان تباه کوونکی دی.
- نجات ببنونکی؛ په پټه او په ښکاره له پاک خدايتعالی څخه ډاريدل او پرهيزګاری، په خوښی او نا خوښی کی حق ويل، په بی وزلی او په بډايی کی د اقتصاد مراعات کول.
- هلاک کوونکي؛ له نفسانی خواهشاتو پيروي کول، بخل او دا چې سړی په ځان مغرور او متکبر وی،

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د عغوی ارزښت د قدرت په وخت کې معلومیږي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- درواغ ویونکی کې میړانه نه وی.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- د پلار دعا د اولاد لپاره هومره موثره ده لکه؛ د نبی دعاء د امت لپاره ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- مال او شتمنی ډیر آشنایان پیدا کوي، خو بیوزلان له خپلو دوستانو نه هم پردی وی، آن چې خپل وروړ هم ورسره کینه کوی.

(حضرت سلیمان علیه السلام)

- علم د عقل څراغ او د فضیلت سرچینه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- چوپ پاتی کیدل ستر حکمت دی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- بي عقله شخص بی ادبه، بی همته شخص ناکام او بی دینه شخص بی حیا وی.

(حضرت امام حسین رضي الله عنه)

- د هغو کسانو له ډلی څخه مه کیږی، چې وایی که څوک راسره ښه کوی، موږ هم ورسره ښه کوو، او که څوک راسره بد کوی، موږ هم ورسره بد کوو. مګر خپل ځانونه اداره کړی، که څوک درسره ښه کوی، ښه ورسره کوی، او که څوک درسره بد کوی ظلم مه ورسره کوئ.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- سخته ګناه هغه ده چې کوونکی یی ساده وګني.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- بری او ماتی د پوځ په ډیریښت او کمښت پوری نه بلکه د الله تعالی په مرستي پوری تړلی وی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د هغه چا په ورانـدی پـه لوړه لهـجه غږیدا مه شرمیږی چې د سترګو پـه

اشاره نه پوهېږي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- ګناه که څوان وکړي هم بده ده، خو ډېره بده دا ده چې زوړ يې وکړي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- که د ژبې له زيان څخه ځان ژغورل غواړئ؛ نو چوپ اوسئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- هغه جسم چې په حرامو نمو او وده وکړي ځای به يې جهنم وي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د پاک او حلال کسب لټون فرض دی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د هر دولتی نظام بريالیتوب او قوت د چلوونکو په عدالت، صداقت او انصاف پوری تړلي وی.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- مجاهد هغه دی چې د اللهتعالی په لار کې په خپل نفس(ځان) سره جهاد وکړي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- دوه نعمتونه داسی دی چې په هغی سره ډېر خلک ازمويل شوی دی؛ يو ښه صحت او بل فارغ وخت.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- پام کوی! چې ښه عملونه خلکو ته د ځان ښوونی لپاره مه کوی، که نه نو د الله تعالی په وړاندې به ستاسو لپاره هيڅ اجر او ثواب نه وی.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- که چيری مو کوم کار بل سړي ته سپارو نو پوه سړی ته يی سپاری، که پوه په لاس نه درتلو نو په خپله يی کوی، که نه نو هيڅ يی کوی مه

(حضرت لقمان عليه السلام)

- که چېرې د انسان چلند د الله تعالی له خوښې سره برابر وی نو د ځان دښمنان هم دوستان کولای شي.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- د آرزوګانو پرېښودل غته شتمني ده او بخښل ښه غچ اخيستنه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- په تنکسه کې د زغم له برکته الله تعالی پر انسان آسانتيا راولي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- غم او نا اميدی د بېکاره خلکو خويونه دي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- دوه خويونه دي چې تر هغه نيک خويونه نشته؛ يو په خدای تعالی ايمان درلودل او بل د خدايتعالی بنده ګانو ته خير رسول.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- له خپل توان نه زيات بار پر اوږو مه باروی، هسې نه چې همت پرې وبائلې.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- له الله تعالی نه پرته له هيچا نه طمع او توقع مه کوئ.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- هغه چا ته هيڅکله چوکی (منصب) مه ورکوی چې په خپله يې غوښتنه کوی، او يا يې طمع کوي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- کم حوصله او ټيټ همته خلک د دنيا حريصان کيږي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- رښتيا ويونکی او امين سوداګر به د قيامت په ورځ له صديقانو، نبيانو او شهيدانو سره وی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- بې ځايه آرزوګانې نه يوازې بې ګټې، بلکې يو وژونکې رنځ هم ورته ويل کيږي.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- د خلکو ترمنځ د پريکړو په وخت کې ډېل مه کوې، هسې نه چې انصاف خپل ارزښت له لاسه ورکړي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- څوک چې له يوه څخه يو بد کار ووينې نو بايد چې په لاس يې اصلاح کړي او که په لاس يې وس نشو، نو په ژبه يې اصلاح کړي، او که په ژبه اصلاح نشو کړای، نو په زړه کې دې ورځنې کرکه وکړي، او دا ډېر کمزوری ايمان دی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- عدل چې هرڅوک وکړي ښه ده، خو چې شتمن او حاکم يې وکړي ډېر خوند کوي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- که چيرې خلک ستاسې د کوم داسې څيز ستاينه وکړي چې په تا کې نه وي، نو مغروره کيږه مه ځکه د ناپوهانو په وينا د جستو څخه زر نه جوړيږي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د خپل ورور په ستونزو مه خوشحاليږه، کېدای شي چې الله تعالی په هغه رحم وکړي او تاسو پرې اخته کړي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- هسې ريښتينې دوستان ومومئ، چې په ښه ورځ مو مجلس په ښايسته او په سخته ورځ مو پرې ملا وتړل شي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- سهار د لمر ختلو په وخت کې مه بيده کېږه، ځکه دا د عبادت وخت دی، په دې وخت کې خوب د بدبختۍ نه ډک وی.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- کامل مؤمن هغه دی چې د ښو اخلاقو خاوند وی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- الله تعالی هغه خلک نه خوښوی چې د ورونو ترمنځ د نفاق اورته ببوزی وهي.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- د سبا لپاره خواړه او توښه مه ايږدی، سبا په خپله له ځان سره خواړه او توښه راوړی.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- تر هغې خوری، څښی، صدقه کوی او اغوندی ترڅو په هغی کې کبر او اسراف ونه ليدل شي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- ډير لږ به داسی شوی وی چې بيړنی خلک تاوان ونه وينی، او ډير کم به داسی وی چې صبر کوونکی بريالی شوی نه وی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ځناور خپل څښتن پيژنی، مگر انسان خپل مالک نه پيژني.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- بی عمله علم بی گټی او بی علمه عمل تباهی ده.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د ځمکې پر مخ د ځان لپاره پانگی او شتمنی مه ټولوئ، ښائی حشرات بی زيانمن کړی يا يی غله درڅخه غلا کړي، د دی پر ځای يی په آسمان کې زيرمی برابری کړی، چې نه ورته د ځمکی حشرات تاوان رسولای شی او نه غله، چيرته چې ستاسو مال او شته وی هلته به مو جوخت ورسره زړه هم وی.

(حضرت عيسی عليه السلام)

- د دوستۍ او الفت لپاره تل کوښښ کوئ، له دښمنۍ څخه ځانونه وساتئ.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- هر څيز زکات لري د مغز زکات دادی چې د ناپوهانو په وينا غوږ ونه ګرول شي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- کوم مسلمان چې په خپل اهل او اعيال باندی د ثواب په نيت لګښت کوی، دا پخپله صدقه ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- هر دين ځانګړی صفت لري؛ د اسلام صفت حيا ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- افسوس د هغه چا په حال چې حساب ګنی او مال دولت راټولوی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- د تل لپاره رښتينې او حق وينا کوی که ترخه هم وی.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- که د کوم دوست نه مو خيانت وليد، رټی يی مه، کېدای شی دا سی څه ووايی چې د هغی نه هم ستغ او سپور وی.

(حضرت سليمان علیه السلام)

- حقيقت دا دی چې حاکمان په دنيا او آخرت کې ډير بدبخت وی.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- د علم زده کړه په هر مسلمان نر او ښځه فرض ده.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

- ورکړه د دنيا او آخرت عيبونه پټوي

(امام شافعي رحمه الله)

- د الله تعالی څخه پرته هيچا ته امید او تمه مه کوئ.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

- آساني کوئ او خلکو ته تکليف مه رسوی، اطمينان ورکوئ، کرکه او نفرت مه پيدا کوئ.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- له هغو خلکو سره مرسته کول چې څه طمع او توقع ترې نه ستر سخاوت دی.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- د چا چې څومره په الله تعالى باندې يقين کم وي هومره يې حرص زيات وي، او څوک چې په لوی لاس ځان اړ کوي، اړ به پاتې وي،

(حضرت علي رضي الله عنه)

- سخاوت د مال، عمل د علم او د الله تعالى رضا د اخلاص ميوه ده.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- کله چې په ځمکه کې يوه ګناه پيښيږي، نو څوک چې ورته حاضر وي او کرکه ورځنې ولري داسې ده لکه چې ورځنې غايب وي،- او څوک چې ورځنې غايب او پرې خوښ وي داسې وي لکه چې ورته حاضر وي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- خيانت، وعده خلافي او غلا مه کوئ.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- څوک چې له خپل ورور نه کرکه کوي او وايي چې له الله تعالى سره مينه لرم، نو هغه دروغجن او مکرجن دی، ځکه څوک چې په سترګو ليدونکي انسان سره نفرت کوي نو د ناليدونکي الله تعالى سره څه راز مينه کولی شي.

(حضرت عيسى عليه السلام)

- په دنيا کې يو ژور سيند دی ډير خلک پکې ډوب شوي دي، خو ته د تقوی نه کښتی جوړه کړه، چې د ډوبيدو نه نجات ومومې او هدف ته ورسيږې.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- تمه نادارايي ده او قناعت بډايي ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

-له مهد(زانګو) نه تر لحد(قبر) پورې د علم زده کړه وکړئ

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-د حیا جامې واغوندئ، چې ټول عیبونه مو پټ شي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-د یو مسلمان لپاره یوازې دومره علم بس دی چې هغه پرې د الله تعالی نه وویرېږي.

(حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه)

-د انسان خدمت کول په حقیقت کې د الله تعالی خدمت کول دي.

(ابوذر غفاري رضي الله عنه)

- تر ټولو ستره خطا له ولس او پرګنو سره خیانت او غداري ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-دالله تعالی په وړاندې تر دوو څاڅکو زیات بل هیڅ څاڅکی زیات ارزښت نه لري؛ د اوښکو هغه څاڅکی چې د الله تعالی له ویرې توی شي، او د وینې هغه څاڅکي چې د الله د رضا لپاره د هغه په لار (جهاد فی سبیل الله) کې توی شي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-هر څوک چې بدي نه پېژني په بدۍ کې ننبلي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د بد خویه ملګرو له ناستې نه ډډه کوئ، ځکه چې سړی هر وخت د ملګرو له مخې پېژندل کېږي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

-په کومه خبره چې نه پوهېږې مه یې کوه، او په کومه چې پوهېږې د وړ سړي په منځ کې یې د ویلو دریغ مه کوه.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

-رښتینی مؤمن هغه دی چې د ښو په کولو خوښ او په بدو خفه شي.

(حضرت محمد صلی الله علیه وسلم)

-پوه هغه دی چې په مجلس کې چوپ پاتې شي، ځکه ډېرې خبرې د

خلکو د نا خوښۍ سبب کيږي او لږ تر لږه له سړي نه داسې څه ويل کيږي چې د ګناه موجب ګرځي.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- حيرانتيا د هغه چا په حال کې ده چې مرګ پيژني او خاندي، دوزخ حق ګڼي او ګناه کوي، شيطان دښمن ګڼي او بيا يې هم اطاعت کوي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- پوه هغه دی چې د الله لپاره تقوی وکړي او له خپل نفس سره محاسبه کوي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- که په رښتيا وژل کيږئ هم له رښتيا مه اوړئ.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- که څوک زما نصيحت اوري نو له مرګ نه زيات دې هر شی ګران نه شميري.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- کومه اشتباه چې فعلاً او په رښو سترګو وشي هغه د بخښلو وړ نه ده.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- ماشوم له او مور او پلار سره امانت دی او د هغه زړه هماغه سپيڅلی جوهر دی، چې د هر ډول زيان څخه پاک دی.

(امام غزالي رحمه الله)

- اغيزناکه ژبه د سړي ښکلا ده.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- که له چا سره احسان کوئ، نو پټ يې ساتئ او که له تاسو سره څوک احسان وکړي نو مه يې پټوئ.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د چا په وس چې ژړا پوره نه وي هغه به په ژړيدونکو خلکو څه مهرباني وکړي

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د دنيا په کارونو کې دومره بوخت او سه څومره چې دې عمر پاتې وي.
(حضرت لقمان عليه السلام)

- غوره اخلاق دا دي چې د خپلو ښيگړو معاوضه ونه غوښتل شي.
(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- تر ټولو غوره ښځه هغه ده چې ميړه يې وويني او پرې خوشحاله شي.
(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- هر کار چې کوې د الله لپاره يې کوې او له بنده ګانو نه هيڅ ډار مه احساسوئ.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- په جگړو کې ننوتل آسان دي خو راوتل ترې ګران دي.
(حضرت علي رضي الله عنه)

- سپاره د پليو، روان دې ناستو او لږ دې ډېرو ته سلام اچوي.
(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- له علم څخه وړاندې صبر او حلم زده کړئ.
(امام مالک رحمه الله)

- د هر شي لپاره افت شته، خو د ملت افت غيبت کوونکي او چغلګران دي.
(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- غوره مال هغه دی چې د هغې په واسطه حياء وساتل شي.
(حضرت حسين رضي الله عنه)

- له ناوړه اعمالو څخه ځان ساتنه اړينه ده.
(امام غزالي رحمه الله)

- خپل او د کورنۍ ستاينه دې د چا په وړاندې مه بيانوه.
(حضرت لقمان عليه السلام)

- تر شرک وروستهستره ګناه په دروغو ګواهي ورکول دي.
(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- په هوښيارتيا کې ډيره هوښياري تقوی او په نيمګړتياوو کې ستره نيمګړتيا بد اخلاقي ده.

(حضرت حسن رضي الله عنه)

- ستاسو شتمني هغه ده چې آخرت ته يې وليږئ، څه چې په دنيا کې پاتې کيږي هغه ستاسې د وارثانو مال دی.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- هغه علم بې ګټې دی چې عمل پرې ونشي او هغه مال بې فايدې دی چې پرېښو چارو ونه لګول شي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- ژړا د سړي زړه رڼا کوي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- جهاد يوه ايماني فريضه ده او ثواب يې هم دومره ستر دی چې اندازه يې نشي کېداى.

(حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه)

- سکوت حکمت دی؛ خو د دې غوره کوونکي لږ خلک دي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- له دنيا څخه ځان وژغورئ دا د تل لپاره د پاتې کيدو ځای نه دی.

(حضرت عيسى عليه السلام)

- دنيا يوه شتمني ده او په دنيا کې ښه شتمني نيکبخته ښځه ده.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د سړي قدر او عزت د هغه د علم او ادب په اندازه کول په کار دي، نه د دولت او نسب په اعتبار.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د علم په سبب هيچا د خدای دعوه نه ده کړې، خو د مال له امله ډيرو داسې کړي دي.

(حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه)

- ستاسو لپاره د خير وينا همدغه ده چې له شر څخه ځان وساتئ.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- په هره ټولنه کې چې څومره قسمونه خوړل کيږي، په هماغه اندازه ول بد وي او وګړي يې ډير دروا غجن وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- علم داسې درياب دی چې څومره او به ترې استعمالوی کمبوت نه کويږ.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- که د الله په نزد دنيا د مچ د وزر په خير ارزښت هم درلوداې نو کافر ته به يې ترې يو غړپ او به نه وای ورکړی.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- په خپلو کې اړيکې مه شلوی، کينه مه ساتې او يو تر بله سره ورونه شې.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- څوک چې مرګ په پام کې لري په نيکۍ او پاکۍ بيړه کوي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- کوم عالم چې خلکو ته نصيحت کوی او په خپله پرې عمل نه کوی د هغه شونډې به په بياتې پري کړای شي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- ايمان د تشې ادعا نوم نه دی بلکې رښتينی ايمان هغه دی چې په زړه کې قرار ومومي او عمل يې رښتينی کړي.

(امام مالک رحمه الله)

- د خلکو د هوساينی لپاره کوښښ وکړئ له خلکو څخه مه ډاريږې او په خپل منځ کې په مينه سره ژوند وکړئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- له ټولو څخه زيات ناپوه هغه دی؛ چې له ګناه څخه خبر وي او بيا هم د ګناه مرتکب کيږي.

(امام شافعي رحمه الله)

- خپل ځان الله تعالى ته وسپارئ چې له ماتي او وبا نه به مو وساتي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- څوک چې په درواغو سره خلک خندوي د هغه لپاره سخته سزا ده.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د ګېډې او ژبې لپاره خپل عزت له منځه مه وړه.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- غصه د انسانيت ډېره مړه کوي.

(امام غزالي رحمه الله)

- له ناداره سره مرسته کوه چې د هغه ژبه ازاده او همت يې لوړ شي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- تواضع او تقوى په جامو کې نه ده بلکې يوازې په دين کې ده.

(امام مالک رحمه الله)

- د مالدارو او شتمنو خلکو سره د عالمانو دوستي، د ريا کرۍ نښه ده.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- کله چې کارونه زيات شي نو لومړی هغه کار وکړه چې ضروري وي.

(امام شافعي رحمه الله)

- په مجلس کې له خلکو څخه مخکې مه ويده کېږه.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- په حقيقت کې انسان هغه دی، چې د علم څښتن او يا زده کوونکی وي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- داسې مرګ وغواړه، چې ژوند درکړي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د خلکو هومره لحاظ کوه، چې خپل ځان خراب نه کړې.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د خپل مشر پيروي پر ځان لازمه کړه.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- سادګي د ايمان نخښه ده.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- د مصيبت اساس د انسان ناوړه خبرې دي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- ګناه د انسان تر ټولو لوی دښمن دی.

(حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه)

- ملي او بين المللی ژبې زده کړی، ترڅو له تاسی سره د دين په خپرولو کې مرسته وکړي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- جنګ او له فتنې څخه په ډډه اوسه.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- علم هغه پانګه ده، چې د هغې ذخيره زياتيږي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- د مړي بد مه يادوئ ځکه کومه ګټه نه لري.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- ډيره خندا مه کوی، ځکه چې ډيره خندا د سړی زړه وژني.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- نيک او غوره اخلاق دا دی چې د اعمالو بدله و نه غواړي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- بد اخلاقی د باطنی نجاست نښه ده.

(امام غزالي رحمه الله)

- احتياج او اړتيا عقل کمزوری کوي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- په ځان باور د نيکمرغی د بنسټ لومړی خښته ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- بې له ازموينې د چا په دوستی باور مه کوئ.

(امام شافعي رحمه الله)

- له چا سره چې مننه او ځان غوښتنه پیدا شي هغه بربادیږي.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- د بل د حقونو په پوره کولو کې بیړه کوئ.

(امام ابوحنيفه رحمه الله)

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت په یاد لره، ترڅو خپل مصیبتونه درته واړه او کوچني ښکاره شي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- ناپوهه چې ترڅو چوپ ناست وی هوښیار بلل کیږی.

(حضرت سليمان عليه السلام)

- چوپتیا او خاموشي خپله سرمایه وګرځوئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- د کمزورتیا علاج چوپتیا ده.

(امام غزالي رحمه الله)

- د ډیري خندا له کبله د انسان عمر کمیږی، عزت او وقار یې له منځه ځي او له مرګ څخه بې پروا کرځي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- جهاد د یو لازمی فریضه ده د دی ثواب هم هومره دی، چې د هغې اندازه ناممکنه ده.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- استغنا او قناعت یو غوره نعمت دی.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- عدالت د شاتو څخه خوږ د غوړیو نرم او له مشکو څخه خوشبو دی.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- ناپوهه چې د چوپتیا په ګټه پوه شی هوښیار بلل کیږی.

(امام غزالي رحمه الله)

- د الله تعالى څخه ويره د علم په اندازه وي او بې ډاره کيدل د ناپوهۍ په اندازه وي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د الله تعالى په رضا خوښې څرګندول په دنيا کې جنت ګڼل دي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- د ټولو خلکو خوشحاله ساتل ناممکن دي، نو خپله معامله يوازې له الله تعالى سره رښتينولۍ له مخې کوئ.

(امام مالک رحمه الله)

- غوره فضيلت د ژبې په ساتلو کې دی.

(حضرت عائشه رضي الله عنه)

- څوک چې د الله تعالى څخه ويرېږي هغه انتقام نه اخلي.

(حضرت محمد صلى الله عليه وسلم)

- د عالم خرابې د يوې ټولنې د خرابۍ سبب ګرځي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د ښځې جهاد دا دی چې له خپل خاوند سره د نيکو اخلاقو له مخې ژوند وکړي.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- چيرته چې د حق وينا ته ضرورت وي هلته چوپتيا هيڅ ارزښت نه لري.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- له بد ذاته خلکو څخه د وفا تمه مه کوئ.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- په هغه چا باور مه کوئ، چې د غصې او طمع په وخت کې يې ونه ګورئ.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- د اسې ملګري ومومئ، چې ښه درسره وکړي او هير يې کړي.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- حق ووايئ او په څرګنده لهجه حقيقت بيان کړئ.

(حضرت علي رضي الله عنه)

- حيرانتيا ده هغه چاته چې تقدير حق ګڼي او بيا هم له مرګ څخه ويريږي.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- د حرص له امله انسان په ستونزو کې اخته کيږي.

(حضرت امام حسين رضي الله عنه)

- په توبه کې وروسته والی د نفس دوکه ده.

(امام جعفر صادق رحمه الله)

- مرګ داسې شی دی، چې معلوم نه دی چې کله به راځي له وړاندې ورته تياری نيول په کار دي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- ډير پام کوه چې الله تعالی دې تل ګوري او په حالاتو دې خبر دې.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- عابد هغه دی چې د الله تعالی په ويش خوښ وي.

(حضرت حسن رضي الله عنه)

- زما په امت د ټولو شيزونو نه مخکې لمونځ فرض کړ او په قيامت کې به د ټولو شيزونو نه مخکې د لمونځ حساب کيږي

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- علم هغه دی چې د عالم لپاره ګټور وي.

(امام مالک رحمه الله)

- په تاسو کې ماته تر ټولو زيات محبوب او د قيامت په ورځ ماته تر ټولو نژدې هغه خلک دي چې په تاسو کې د ښو اخلاقو لرونکې دي.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- ډير خندل له مرګ څخه د بې پروايي نښه ده.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- دنيا د غلو مورچه ده په دې کې په هوښياری او پوهې ژوند کول په کار دي.

(حضرت لقمان عليه السلام)

- کله چې هوس پر عقل برياليٰ شي، انسان کندې ته لوېږي

(حضرت علي رضي الله عنه)

- که کوم خير درڅخه ضايع شي، نو کوښښ وکړه چې لاسته يې راوړې او که خير په مخه درغیٰ؛ نو په بيړه سره يې خپل کړه.

(حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه)

- د چاروا کو له ستاينې څخه ځان وساتئ.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

- زړه د ژبې پټې غونډې دی که ښه تخم وکرې، او که تپولي دانې راونخيژې نو لږې خو به راو خيژي

(امام شافعي رحمه الله)

- د مال له عيب پټولو او اخستونکي ته له دوکې ورکولو ځانونه وساتئ.

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- پوهان د آخرت غم خوري، جاهلان د دنيا غم خوري

(حضرت علي رضي الله عنه)

- زما آسانه ځانکدن نه دي خوښ، ځکه دا په دنيا کې د انسان آخري تکليف دی، چې بنده ته د اجر ورکولو سبب ګرځي.

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- هر څوک چې د خپلې روزۍ د پراخۍ او د عمر د اوږدوالي او برکت خوښوونکي وي نو خپلوانو سره دې ښګڼه کوي

(حضرت محمد صلی الله عليه وسلم)

- مونږه هغه قوم يو چې الله تعالی مونږ ته په اسلام سره عزت راکړی، که چيرې مو عزت په بل څه کې ولټوه، نو الله تعالی به مو ذليله کړي

(حضرت عمر رضي الله عنه)

- الفاظ د ويلو نه مخکې د انسان غلام وي، مګر د ويلو نه وروسته انسان د خپلو الفاظو غلام جوړيږي

(حضرت علي رضي الله عنه)

-د الله تعالی په رضا خوښې څرګندول په دنيا کې د جنت ګټل دی.

(حضرت عثمان رضي الله عنه)

## له حکمت اديان څخه غوره خبرې

- ستر خلک لږې خبرې کوي او زيات عمل کوي.
- د جاهلانو په خبرو باندې صبر کول، د عقل زکات ورکول دی.
- انقلاب يو سيلاب وي، چې راشي نو ويده خلک يو سي او ويښ ترې فايدې او چتې کړي.
- داسې يو شخص خپل دوست کړی، چې ښه درسره وکړي او هېر يې کړي.
- نيکي که هر څومره کوچنۍ هم وی، وی کړه، ځکه چې هيڅوک خبر ندی چې د کومې نيکۍ له امله هغه جنت ته داخل شوی.
- اې انسانه ! يوازې د هغه ذات څخه يې وغواړه، چې د هيچا مهتاج نه دی.
- کله چې ژوند د ژړا سل دليله در وښايي، نو ته زر دليله د خندا ور وښايه
- که تا نه پيژني، مه خپه کيږه، په دی خپه شه چې ته ولې خلک نه پيژنې.
- چا ته لار ښوونه هم صدقه ده.
- د عالمانو د قلم رنګ د شهيدانو د وينو په شان ارزښت لري.
- په مال او دولت يو اځې کتابونه ترلاسه کولای شو نه علم.
- له ګناوو څخه توبه وباسه او ژوند پر ځان باندی مه پيتې کوه.
- يوه کوچنۍ مرغۍ چې د پانو په منځ کې سندرې وايې د الله تعالی د ثبوت لپاره بس ده.
- آيا د عقل کچه دومره لويه ده، چې لوی الله تعالی په خپل ځان کې ځايولی شي.
- زړه د خالق کور دی، د مخلوق کور ترې مه جوړوه.
- ستاسو ستر دښمن ستاسو ناوړه ملګرې دي.

- له ښه عمل نه پرته د جنت غوښتل هم ګناه ده.
- څوک چې خپل ځان ترنورو غوره بولي، همدا ته غرور وايي.
- غوره عبادت دا دی، چې د خپل نفس غوښتنې ونه منل شي.
- د دين اصل عقل، او د عقل اصل علم دی.
- کومه وينا چې مو د عقل په تله نه وي تللی هغې ته ځواب مه ورکوئ.
- جهاد ژوند دی، جهاد عزت دی او جهاد سرلوړي ده.
- که د زړه اطمينان او ډاډ غواړې له ضد او کينې څخه ځان وژغورئ.
- په نړۍ کې د ټولو نه غټ ذهني تکليف د اولاد بې لارې کېدل دي.
- د قرانکريم تلاوت او اوريدل انسان له سندرو نه، د موسيقۍ له مجلسونو څخه ښه ژغورلی شي.
- څوک چې زيات خندا کوي د هغه به هيڅ درناوی نه کيږي.
- ستنه که برېښنده هم ده نو د نورو جسمونه پټولای شي.
- مغروره انسان د هغه کس په مثال دي، چې د غره په سر ولاړ وي او نور انسانان ورته کوچني معلوميږي، د دې څخه ناخبره دي چې خلک د لاندې نه دی هم کوچنی ويني.
- انسان د ټولو مخلوقاتو په پرتله ډير اړ او بې وسې دی.
- د انسان لوړول ګران او راغورځول يې آسان دی.
- د نيک کار پيل ستاسو کار دی او پای ته رسول د الله تعالی.
- زړه هغه زړه دی چې د دنيا له غمونو پاک وي.
- تاسو د مشرانو درناوی وکړئ کشران به ستاسو درناوي وکړي.
- هغه انسان خوش نصيب دی، چې په خپل نصيب خوشحاله دی.
- څوک چې ښه عمل نه لري او د دې کبله وروسته پاتې وي، نو د نسب په واسطه مخکې نشي تلای.
- که په غلطه لار لاړې، د بيرته را ګرځيدو څخه مه ويريږه.
- له نفرت څخه نفرت پکار دی.

- څاڅکې چې درياب سره يوځای شي بيا څاڅکې نه پاتې کيږي
- څوک چې په خندا سره ګناه کوي هغه به له ژړا سره دوزخ ته وغورځول شي.
- بې له فکر څخه پوهه لومه ده او بې له پوهې څخه فکر بلا ده.
- مار وژل او د هغه بچي ژوندي پرېښودل د ناپوهانو کار دی.
- د ازادۍ ګلبڼ په وينو خړوبيږي
- هغه څوک له هر چا نه وړاندې دی؛ چې لوړ همت لري.
- که خپله خوشحالي غواړئ؛ نو د نورو د خوښۍ او خوشحالۍ په هڅه کې اوسئ.
- کوم عمل چې پښيمانتيا لري، په هغه کې خوند او لذت نه وي.
- د انسان ښه جامه تواضع ده او د عارفانو ښه لباس تقوی ده.
- خپل ځان د مال او دولت لپاره مه رسواء کوئ.
- اميري د زړه اميري ده نه د دولت.
- اې انسانه ! الله تعالی د رضا لپاره دومره کوښښ وکړه، څومره چې ورته محتاجه يې.
- زوړ علم زده کړه او په نوي علم غيږ رابدله کړه، ترڅو وړ ښوونکی شي.
- د عقل او پوهې خاوند بايد تل په غم او فکر کې اخته شي.
- څوک چې بل پورې مسخري او ټوکې کوي، هغه به تل سپکيږي.
- د وخت قدر او ارزښت د هغه له تيريدو وروسته معلوميږي.
- په خپله شتمنۍ مه غوليږه ځکه قارون خپلې دارايۍ په ځمکه ننه ايستلو.
- د هغه کار د کولو نه ډډه وکړه چې وروسته بيا د پښيمانۍ سبب ګرځي.
- زده کړه تل تر تله وګڼه او د پای ټکی مه ورته ږده.
- تر اوسه مې داسې سړی نه دی ليدلی چې ځان پړو بولي.
- خپله غلطي دې بې له ډاره سمه کړه.
- پوهه د خلکو پيژند نه ده.
- په آخرت کې به جنتيان د هيڅ شي ارمان نه کوي، مګر د هغو ساعتونو به

ارمان کوې چې پرې د الله تعالی د ذکر نه بيغير تير شوې وي.
- د چرګ حلالو لپاره د غوايي حلالولو چاړې ته ضرورت نشته
- پر نيکۍ تلوار کوی او په بدو سوچ.
- خپل زړه له حسد او تګۍ څخه پاک ساته
- بې ځايه وينا کوونکی او لويې کوونکی مه اوسه
- خيانت کوونکی د اعتماد وړ نه دی.
- نابللی د چا کور کې معلمه مه شي.
- سپی، دومره وزغلوه چې ديوال ته يې مخ نه شي.
- د عقل وړی نشته د دنيا موړ.
- نيکمرغه هغه څوک دی چې لـه خپلې هرې خطا څخه نوې تجربـه ترلاسـه کړي
- زغم لويه زړورتيا ده.
- د زده کړې په لار کې د ننني کړاو ګالل د سبا لپاره د نيکمرغۍ زيرمـه کـول دي.
- نيکمرغه هغه څوک دی چې د نورو له ناوړو کړنو پند واخلي او پخپله يـې سرته ونه رسوي.
- پاکه عقيده، حيا او عفت، له هيواد سره مينه د ايمان له نښـو نښـانو څخـه دي.
- جګړه د هر ولس تدريجي ځان وژنه ده.
- د دروغجن سزا داده چې څوک يې په رښتيا خبره هم باور نه کوي.
- بې زحمته ژوند کړاو دی او بې علمه ژوند څناورتوب.
- حکمت داسې ونه ده چې په زړه کې يې شنه کړی نو په ژبه ميوه ورکوي.
- ښايي د غلا او درغلۍ ځاله يوه ورځ ويجاړه شي، خو د رښتيا او امانت ماڼۍ ټينګه او پر خپل ځای ولاړه وي.
- رښتيا وايه او سم عمل کوه، وحشيان او ځنګليان به دې هم قدر وکړي.

- د ښه حکومت نښې د ژبې او عمل په يو والي کې دي.
- که د خالق نژدېوالی مو خوښ وی نو پر مخلوق باندی ولورېږی.
- د خپل نفس معلم او د خپل وجدان شاګرد و اوسه
- ښه عمل نورو ته ورکړه ده، نه له نورو نه غوښتنه
- نيکی داسی شمع ده چې د دوست او دښمن دواړو ودانی يو شان رڼا کولای شي.
- هوښيار لومړی زړه پوښتی او بيا په ژبه خبرې کوي.
- بد کاري د الله تعالی سره ښکاره دښمني ده.
- د يو ديني عالم معنوی قوت تر سلو زرو جاهلانو زيات وی.
- د اسلام سپيڅلی دين د ټولو ښيګړو او ښکلاوو ټولګه ده.
- پوهان د خبرې نه مخکې فکر کوي او ناپوهان وروسته.
- دنيوی عذاب دا دی چې په ژوندونی د انسان زړه او ضمير دواړه مړه شي.
- د انسانی کمال نښه دا ده چې غره ته ووايې ځه ته نو هم بايد روان شي.
- هر وخت چې د ګناه اراده کوئ؛ نو د الله تعالی د پاچاهی نه د باندی ووځی.
- په خپل لوړ منصب مه غولېږه ځکه فرعون خپل منصب په رود نيل کې غرق کړ.
- که نيت سپيڅلی وی نو د کوچنې کار اجر او ثواب هم د غټ هومره کېدای شي.
- د صابر صبر تر کړاو او ازميښت وروسته څرګندېږي.
- رښتونی کمال د علم او عمل پيوستون دی.
- د بدی نه کول پخپله نيکی ده.
- د يو چا وينا د هغه رښتونی تصوير انځوروی.
- څوک چې کوم کار زيات کوي په همغه کار به مشهورېږي.
- څوک چې د يو صالح سړي سره مينه لري ګويا چې له اللهتعاليسره مينه

لري.

- ستاسو تر نفس زيات هيڅ داسې نارامه څناور نشته چې د سختو تړلو مستحق وي.
- توکل دی ته وايي چې ژوند دوه ورځ وګڼل شي او د سبا غم ونه خوړل شي.
- نا پوه د هيچا نصيحت ته غوږ نه نيسي.
- کله چې ويناوې له زړه څخه راووځي؛ نو په زړه کې ځای نيسي.
- د الله تعالی په نعمتونو کې فکر کول غوره عبادت دی.
- صبر د لوړ همت پايله ده، نه د بدني قوت.
- خلافت د ټولو ستونزو د حل يو اځينی لاره ده.
- په خپل نسب مه تيروځه ځکه چې ابوجهل د قريشو له اشرافو څخه و او جهنم يې ځای شو.
- په صبر کولو کې کومه ستونزه نشته او په ژړا او فرياد کې کومه ګټه
- د حلم او زغم څخه عزت او رښتينی ژوند په لاس راځي.
- بدي نه کول پخپله نيکي ده.
- تمه آزاد سړي غلام ګرځوي.
- ډيري خبرې کول د ستونزو بنسټ دی.
- ښځې د شيطان جال دی او ځواني د ليونتوب يوه برخه
- د صحيح خلوت او عبادت ګانه حلال رزق دی.
- نيک عملونه د ايمان روښنايي ده.
- ويره د ښځو له فتنو څخه ده.
- علم چې په هره طريقه ممکن وي ترلاسه يې کړئ.
- مينه هغه وخت سرته رسيږي چې مطلوب شی لاسته راشي.
- ترڅو چې خاورو ته نه يم سپارل شوی، تر هغې به قلم او دوات له لاسه ورنکړم

- غوره عبادت په پرله پسې ډول د حق او رېدل دي.
- د ښېگڼې ارادي په لرلو به د هر شي څښتن شي.
- ادب مصرف نه لري، ولې هر څه اخيستلی شي.
- دنيا د ستونزو کور دی، هغه شخص پرې زړه تړي چې له عقل نه خلاص وي.
- ستر مصيبت جهل او ناپوهي ده.
- د ټولو برکتونو ښه کونجي صبر او زغم دی.
- ځان ښودنه په حقيقت کې د کفر له سختو ډولونو څخه ده.
- د الله تعالی لپاره توبه د هغه په عبادت وړاندې کړه.
- علم هغه د رحمت وريځ ده چې د رحمت باران ترينه اوري.
- څوکې کوم ارزښت نه لري بلکي اهداف مهم دی.
- تصميم د بريالیتوب لومړی شرط دی.
- د الله تعالی په ياد د ايمان اساس پياوړی کيږي.
- ډېره بده ناروغي د زړه سختوالی او غفلت دی.
- دوستي له هغه چا سره کوه، چې ستا په بدلون د هغه بدلون رانه شي.
- هغه چا دوستان لږ وي، چې په ښکاره يو څه او په پټه بل څه کوي.
- لکه شمع چې ځان ويلی کوی او نورو ته رڼا وربخښي، دغسی تاسی هم ځان وسوزی چې نورو ته مو گټه ورسيږي.
- د نيمې ورځې حکومت، د سلو کلونو کور ورانوی.
- د ژوند هره گړی گټوره پانګه وبولی او هڅه وکړي چې بې ځايه نشي، کنه نو په قيامت کې به درته خپله زيرمه تشه توره ښکاره شي.
- د هغه علم په لټه کې شی چې تر مرگ وروسته مو په آخرت کې په ښه راځي.
- که غواړی چې بريالی و اوسيږی نو پرله پسی زيار وگالی.
- ژوند يو امانت وگڼي، ښايي ژر درنه واخيستل شي.

- راشه درشه زیاتول د مینې کمښت رامنځته کوي.
- ښه او پیاوړی معلم (ښوونکی) د لمر د وړانګو په څېر وي چې خپله رڼا او حرارت هر چیرې او هر چاته په یوه شان ورکوي.
- که خپل لګښتونه او ګټه سره وتلئ نو هیڅکله به چاته اړ نشي.
- د پیسو پیدا کول آسان دي، خو ساتنه یې ګرانه ده.
- لږ ویل او ډیر کول تر ویلو او نه کولو ډیر ښه دي.
- دومره وخوره چې هضم یې کړې او هومره ولوله چې جذب یې کړې.
- علم که په هر شکل شونې وي زده یې کړه ځکه دا د عبادت یوه برخه ده.
- دزړه سواندو او رښتینو انسانانو مخونه د پسرلي د ګل غوټیو په څیر تاند او غوړیدلي وي او د دروغجنو او بې رحمه خلکو څیرې د خزان سیلۍ وهلي او مړژواندي وي.
- له رنځ نه ومرې خو د احسان دارو مه خورئ.
- د ټولو نه بهترین عمل په اول وخت کې لمونځ کول دي.
- په مشرتابه، خانۍ او سردارۍ مه دوکه کیږه، ځکه چې ابولهب خپل مشرتابه د اور په لمبو وسوزولو.
- د خلکو د عیبونو لټون پریږدئ، چې د خپلو عیبونو څخه خبر شئ.
- د ادب او اخلاق له لارې هر څه ترلاسه کولای شي.
- څوک چې ځان پوه او عالم بولي په حال یې افسوس دی.
- لږ خوراک، کم خوب او لږ وینا د ژوند اصول وګڼئ.
- د اسلام مقدس دین سر ترپایه ادب دی، څوک چې هغه مراعات نه کړي هغه بد مرغه دی.
- هره ونه ځانته او به غواړي، د معرفت د ونې او به فکر او تدبر دی.
- د اوبو په خوند هغه څوک پوهیږي، چې تږي وي.
- په دې دنیا کې هغه خلک مغرور دي، چې د علم له نعمت څخه محروم دي.
- نیک اخلاق د ایمان نیمایې برخه ده.

- د دنيا مينه د ټولو ګناهونو سر دی.
- عاقل هغه څوک دی چې د دوو خيرونو او دوو شرونو ترمنځ فرق وکړای شي.
- د الله تعالى څخه پرته هيچا ته اميد او تمه مه کوئ.
- که چيرې يوه انسان ته واک ورنه کړی شي په خپلو کارونو کې پرمختګ نشي کولای.
- يوائې په الله تعالى باور ساتل په کار دبي، له خلکو څخه تمه مه کوئ.
- د خپلو اکي يو ساعت د بلواکي ل ټول عمر څخه غوره دی.
- څوک چې يو هه ولري هيڅکله د ملګري راز نه خپروی.
- که واورې چې غر ښويدلی نو ويې منه، خو که واورې چې يو چا اخلاق بدل کړي مه يې منه
- په ټولنه کې برکت دی.
- د بنده او د شرک په منځ کی فرق کونکی يوائې لمونځ دی.
- معصوم هغه دی، چې الله تعالى له ګناهونو څخه ژغورلی وی.
- کله چې ژبه اصلاح شې زړه خپله اصلاح کيږي
- له ستونزو څخه مه ويريږه ځکه چې ستورې په تياره کې ځليږي
- هوښيار هغه دی، چې د دنيا له مينې څخه پرهيز وکړي
- غوره وينا هغه ده، چې لنډه او معنی لرونکې وي
- څرګند شرک د بتانو عبادت دی او پټ شرک پر مخلوق عقيده ساتل دی.
- په عملونو کې تر ټولو غوره عمل هغه دی، چې اخلاص په کې وی.
- چا چې د الله تعالی يو والی وپيژانده هغه هدف ته رسيږي
- د بدو ملګرو، فاسدو دوستانو او د ګناه او فساد له ځايونو څخه لرې ګرځه
- هيڅ يو شی د ايمان او د لمونځ نه بهتر فرض کړای شوی ندی که چيری د دي نه بهتر بل شی فرض کړی شوی وای نو فرښتو ته به يې د هغه حکم

ورکړی وای، فرښتی شپه او ورځ څوک په رکوع کی او څوک په سجده کی دی.
- غوره هوښيار هغه دی، چې هر شي ته د عبرت په سترګه وګوري.
- د مذهبي تعصب له کبله د قومونو ترمنځ همدردي او اتفاق له منځه ځي.
- نادارہ سره کينئ، خو د بدعتيانو سره له ناستې پاستې څخه ځان وژغورئ.
- د تخت او تاج نيشه د انسان ځينې ځيرونکی حيوان جوړوی.
- د بدعت له خاوندانو سره له کيناستلو څخه ځان وساتئ.
- که د ځان ورک کول نه غواړې نو لوېي مه کوه.
- د مسافرۍ دوستي او ملګرتيا د خپلوۍ له ملګرۍ او دوستي څخه ډيره کلکه او پخه ده.
- ژوند د مرګ ابتداء ده او مرګ د ژوند پيل دی.
- لمونځ د هر پرهيزګار قرباني ده.
- د الله تعالی کتاب لوله يا يې اوره الله تعالی يادونه ډيره ډيره کوه او خپل وخت بې ځايه مه تيروه.
- اسلام يو ائينی دين دی، چې د ټولې ښيګڼې پکې نغښتې دي.
- د مال او دولت څخه پرته بل شی هو مره ايمان ته زيان نشې رسولی.
- کله چې غوسه پر تا غلبه ومومي، نو ته خاموش پاتې شه.
- د دولتې قدرت په وخت کې ډير ښه او د وياړ ډک کارونه درنښت، نرمی او ښښنه ده.
- ښه کتاب بهترين او او غوره دوست دی.
- د علم څخه پرته انسان الله تعالی ته نشي رسيدلی.
- په هيڅ کار کې مناقشه مه کوه ځکه چې ځان ښودنه خير له منځته وړي.
- د رښتينې انسان ملګری خدای دی.
- غوره جهاد دا دی، چې له قدرت سره سره بيا هم انتقام وانخلي.

- ساز او سندرې اورېدل حرام دي.
- له ژوند څخه مقصد يوازې نيکمرغي نه ده، بلکه پرمختګ ده.
- صابر هغه دی چې د ستونزو پرمهال فرياد ونه کړي.
- د يو عزتمن انسان لپاره په دنيا کې دوه کاره دي؛ يا به ګټې يا به سر قربانوي.
- څوک چې په پيل کې اراده نشې کولای ترپايه پورې پرمختګ نشي کولای.
- هر څوک چې د قدرت په وخت کې نيکې ونه کړي، د کمزورۍ په وخت کې به د کړاوونو سره لاس او ګريوان وي.
- لمونځ د دين ستن ده.
- خپلواکي په توره اخيستل کيږي او په پوهه ساتل کيږي.
- علماوو ته د فقيرانو اړتيا ده او فقيرانو ته د علماوو اړتيا ده.
- ترخه د وی خو رښتيا دې وي.
- څوک چې خپل ځان تر نورو هوښيار بولي هغه به هيڅکله د کمال پړاو ته ونه رسيږي.
- معلمه پالنه دا ده؛ چې په راتګ يې خوشحاله او په تللو يې خپه شي.
- څوک چې يو اځي والي کې دوه رکعته لمونځ وکړي چه د الله تعالی او فرښتو نه بغير يې هيڅوک هم ونه ويني نو هغه ته به د دوزخ څخه د خلاصی اجازه نامه ورکړشي.
- شريعت له دريو شيانو څخه جوړ دی؛ علم، عمل او اخلاص.
- مرګ د راتلونکې په نسبت ډير آسانه دی، خو له مخکې نه ډير سخت دی.
- وخت ډير قيمتي شی دی نو خپل قيمتي وخت په قيمتي شي ولګوئ.
- چاته چې خپل ځان ښه ښکاره شو نو فرعون ته ورته دی.
- لمونځ د مؤمن نور دی.
- رښتينی دوست هغه دی، چې د خپل محبوب په وړاندی د ناتوانی.

اعتراف وکړي.

- په دروا غو سوگندونو مه کوئ، ځکه چې دا ستاسو اباد کورونه په کنډوالو بدلوي.

- د هر ملت سرمايه د هغه ملت روزلي بچيان دي.

- د ښو اخلاقو څښتنان د ير ژر ځانته مينوال او خواخوږي پيدا کوي.

- د ښو خلکو ملگرتيا د ښه کار کولو نه غوره او د بدو خلکو ناسته د بدو چارو هم بده ده.

- د هر سړي عزت په خپل لاس کې دی.

- بلبل چې په طلايي قفس کې هم واچوې په وطن پسې ژاړي.

- رښتينی زړورتوب د ژوندانه په ستونزو باندې برياليتوب دی.

- اصل عبادت لومړی د علم زده کړه وروسته پرې عمل او په پای کې د هغې خپرول دي.

- د غرور، حرص او ځان غوښتني په مهال د الله تعالی ويره مخ ته ودروئ.

- زه د رحمن له ملگرتيا نه دومره فرصت نه لرم چې له شيطان سره دښمني وکړم.

- په هر انسان کې نيمگړتياوې وي، پوهان هغه دي، چې په خپلو نيمگړتياوو خپله پوه شي او ناپوهان تل د نورو نيمگړتياوو ته گوته نيسي.

- د مار بچيان هم ماران وي، ځکه نو د هغو ساتنه ناپوهي ده.

- د غصې غوره علاج چوپتيا ده.

- د الله تعالی له ويرې د مومن له سترگو څڅيدلي اوښکې د جهنم اور هم مړ کولای شي.

- له حرام مال څخه صدقه ورکول داسې دي لکه؛ ناولې تو ته چې په وينو پرمينځل شي.

- د مرگ يادول د نفس د ټولو رنځونو ښه علاج دی.

- د سترګو، ژبې، غوږ او ګېډې ساتنه وکړې، هسې نه چې د بې پروايي له امله خبره ذلت او رسوايي ته ورسيږي.
- لمونځ بهترين جهاد دى.
- تر ټولو سخت کار پر خپل نفس باندي بنديزونه لګول دي.
- د آخرت کار نن وکړه او د دنيا کار سبا ته پريږدي.
- ډيره ښه پوهه او هوښياري هغه ده چې د عمل سره ملګرې وي.
- د زړه ملګرى دى په ګوښې توب کې نيمګړتياوې درپه ګوته کوي، د خلکو په مخ کې دې ستاينه کوي او په سختو شيبو کې درسره په څنګ کې دريږي.
- مېلمه پالنه د پيغمبرانو دود دى.
- په هر حال کې په الله تعالى باندى ډاډ او باور درلودل د مسلمانانو ايماني او وجداني وجيبه ده.
- لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او د رسول پيروي وکړئ، هيله چې پر تاسې رحم وشي.
- چا چې د خپل مال زکات ورکړ، د مال له شر او آفت نه په امن شو.
- د خپل وطن ګيدړ، د بل وطن تر زمري ښه دى.
- زما رحمت هر شي ته شامل دى نو ژر به دغه نعمت هغو کسانو ته ورکړم چې تقواى کوي او زکات ورکوي او هغه کسان چې زمونږ په آيتونو ايمان لري.
- څوک چې د زکات له ورکړې منعه کوي نو د قيامت په ورځ يې ځاى دوزخ دى.
- کله چه بنده لمونځ شروع کړي نو الله تعالى د هغه طرف ته پوره توجه فرمايي او کله چه لمونځ نه لري شي الله تعالى هم ترې لرې شي.
- روح هغه جسم دى چې يواځې الله تعالى وربانديې پوهيږي او هغه يې پالنه کوي او د هغه په امر چليږي.

- رښتونی شهادت د ټولنې په بدن کې د وينو پيچکاري ده.
- په دی کې خو هيڅ شک نشته چه په ټولو ګناهونو او منکراتو کې خوند شته ولی عواقب او پايلی يې ډيرې خطرناکی دي.
- تسل او سکون د حال او راتلونکی لپاره يو ښه زيری او خوشحالی ده.
- حرام خوند د څو دقيقو نه بغير ټول عمر څور او غم دی.
- له دنيا او هغه څوک چې په دنيا کې اوسيږي د وفا تمعه مه کوی.
- کله چه کوم آفت د آسمان نه نازليږی نو د جماعت له آبادونکو نه لری وی.
- د مور غيږ د زوی زانګو ده.
- کله چې تاسو له چا سره نيکي وکړی، نو هغه هيره کړی او کله چې در سره احسان وشو مه يې هيروئ.
- کبر هغه زينه ده چې له آخری پوړ څخه سړی پر څمکه غورځوي.
- بخل د نعمت او د خدای تعالی د داد څخه انکار دی.
- د امراء سره غرور او د فقراء سره عجز تواضح ده.
- خوف او رجا د بنده لپاره داسې ضرور دي لکه د مرغه لپاره دوه وزرونه که يو هم بيکاره شي نو بل کله هم کار نه شي کولای.
- د صبر دری علامې دي، شکايت پريښودل، صدق رضا او قبوليت رضا.
- عقل د دنيا بنياد دی او د عقل بنياد علم دی او د علم بنياد صبر دی.
- دينی او دنيوی مفادات صرف د يوې لحظې صبر سره حاصليږي.
- که چيری لمونځ ګزار په څه وجه دوزخ ته ولاړ شی نو اور يی د سجدی ځايونه نه سوزوی.
- د عزت خاوند هغه څوک دی چه ګناهونو نه وی ذليل کړی.
- عالم هغه نه دی، چې خير او شر دواړه جلا جلا وپيژني، بلکې عالم هغه څوک دی چې خير وپيژني نو پيروي يې وکړی او شر وپيژني نو ځان تری وساتي.
- اخلاص دا دی چه سړی اعلی ترين عبادت ادنا ترين تصور کړي.

- د ځمکې پر سر له دعا پورته بل لوی قوت نشته
- الله تعالی د سجدی ځایونه په اور حرام کړی دی.
- تکلیف او زحمت یا د گناه ثمره او یا امتحان دی چې حل یې رجوع او صبر دی.
- علم لوی دولت دی خو چې تقوای او عمل ورسره وي.
- ډېره ستره پانگه پوهه ده ځکه پوه خلک په هر ځای کې بریالي وي.
- چا چې له خدای تعالی سره ژوند تیر کړ هغه نه مري.
- د جُمعې لمونځ په هر عاقل، بالغ، آزاد، مقیم او تندرست مسلمان فرض دی.
- د قیمتونو د لوړوالی په هیله د خوراک او څښاک شیان مه ذخیره کوی او دخدای تعالی مخلوق ته غم او پریشانی مه جوړوی.
- د ټولو نه زیات خوښ عمل د الله تعالی په نزد لمونځ دی چې په وخت وشی.
- له خپل وطن نه پښې جدا کیږې خو زړه نه جدا کیږي.
- که مو څوک پیدا کړل په عمل د قوم لوط (لواطت) نو فاعل او مفعول دواړه قتل کړی.
- زنا فقر او لوږه منځته راوړی.
- الله تعالی سره د بنده د ټولو نه زیات نزدیکت په سجده کی وی.
- خدای تعالی حرام کړی شراب، قمار، طبله او حرام کړی یی دی ټول نشه کونکی شیان.
- لمونځ د زړه نور دی څوک چې زړه نورانی جوړول غواړی نو په لمانځه سره یی د جوړ کړی.
- د ټولو ښېگڼو او ښو اخلاقو سرچینه پوهه ده.
- زرگونه کتابونه یو لورې ته او د مور او پلار نصیحت بل لوري ته
- استقلال او آزادي ته په تشو ویناوو څوک نشي رسیدلی.

- اديب هغه چا ته نه وايي، چې نا اشنا ويناوې وکړي، بلکې اديب دی ته وايې، چې ميړانه او پاکي ولري
- د انسان ډير ستر کمال دا دی چې وظيفه د وظيفې لپاره ترسره کوي
- بشپړ سړی دا دی، چې په سلامتيا باندې صبر وکړي
- عالم هغه دی، چې علم يې له عمل سره برابر وي
- پردې امت له ټولو څخه زيات، چې په کوم شی باندې زه ويريږم هغه رياء او شهوت دی
- کله چې ته په خپل زړه کې د عمل مزه پيدا نه کړې، نو دغه عمل بد وګڼه
- غم او خپګان نيکۍ زياتوی، ګناه او تکبر بدي زياتوی
- ايمان او صالح عمل دواړه ستا د نيکمرغی او سپيڅلي ژوند راز دی
- هوښياري او پوهه هغه سرچينه ده چې هيڅکله نه وچيږي
- علم او پوهه ترلاسه کړه، چې په دې توګه به ستا ټول غمونه يوې خوا ته شي
- د اسلام له دښمنانو سره په جنګ کې د مؤمن اولنی او سلاح په يو الله تعالی ايمان دی
- هر کار په بشپړه ديانت، غور او پاملرنه کوئ
- بد کاري له الله تعالی سره څرګنده دښمني ده.
- پر نيکی ببړه کوئ او په بدی فکر.
- بندي شوی هغه دی چې زړه يې د خپل رب نه بندی شوی وی او تړل شوی هغه دی چې خپلو نفسي غوښتنو تړلی وی
- د دې پر ځای چې تيارو ته بد رد ووايو ښه به دا وي چې خپل څراغ جوړ کړو.
- هوا ګاني غرونه نشي خوځولای، خو شګې يو خوا او بلې خوا شيندلی شي
- پر سړي باندې د خپل اولاد روزنه واجبه ده.

- اصل کمال علم او عمل دواړه جمعه کول دي.
- خپل نيک عمل او ښيگړه لږه وګڼئ او د زياتولو هڅه يې وکړئ.
- واک او قدرت يو غولوونکی شی دی چې کمزوري خلک پرې غولېږي، د ځان غوښتنې او کبر په جال کې يې ننباسي او له انسانيت څخه يې جلا کوي.
- ځان بې وسه مه ګڼئ، خو د ځان ظرفيت، استعداد او وړتيا هم وپيژنئ.
- ربښتينولي چې د عمل او پرهيز سره ملګرې نه وي، د يوه توت ارزښت هم نلري.
- د علم د زده کولو لپاره ځان د شمع په څير ويلي کړه.
- که زړه صفا کول غواړې نو سترګې له دنيا څخه بندې کړه.
- خلک د علم لپاره راځي، علم هيڅکله هم خلکو ته نه ورځي.
- د پرمختګ غوره لاره د خپلو اکې لاره ده.
- د سل کاله ژوندي پاتې کيدو لپاره سل کاله عمر ضرور نه دی، يوه ورځ داسې کار وکړه چې خلک تا سل کاله په ياد ولري.
- ښه فکر د زړهاوو انسانانو ژوند ژغورلای شي، او بد فکر په زرهاوو انسانان له منځه وړلی شي.
- غوره نيکي د خپلو ملګرو د عزت ساتنه ده.
- ربښتينی ورور او دوست مو هغه دی، چې درته نصيحت کوي.
- مرګ غوره سپارښتنه ده.
- د پټ منافقت څخه ښکاره دښمني غوره ده.
- په خپلې کورنۍ او نسب هغه څوک فخر کوي، چې له علم او کمالاتو څخه محروم وي.
- د جګړې لومړې قرباني، رښتيا ده.
- هلاکوونکې شيان دوه دي، خپل ځان لوی ګڼل او نا اميده کيدل.
- وطن په ټولو ګران دی، خو ځينې د وطن دوستۍ په طريقه نه پوهيږي.

- د هغه چا پروا مه کوه چا چې ستا باور مات کړی وي، د هغه چا قدر وکړه څوک چې اوس هم په تا باور لري.
- هغوی چې د پلرونو په افتخاراتو ځان تیرباسي خپله بې غیرته دي.
- د نورو مالدارو خلکو مال ته سترګې مه نیسه، الله تعالی چې څه درکړي دي د هغې شکریه ادا کړه.
- اې انسانه! ګناه دومره وکړه، څومره چې عذاب زغملای شې.
- انسان تر ګل نازک او تر تیږې کلک دی.
- ای انسانه! ټول عمر دی د پیسو په راټولولو کې تیر کړ،
- خو! په کفن کې نه جیب شته او نه په قبر کې الماری.
- کبرجن بادشاهان داسې اور دی چې اور لګوونکی هم سوځوي.
- هغه ارزښتونه چې د ځان لپاره یې ټاکې، په ژوند کې ستا سو په ټولو پریکړو اغیز کوي.
- څوک چې د علم اراده لري؛ نو قرانکریم دې راواخلی ځکه چې په دې کې اولني او وروستني ټول علمونه پراته دي.
- له شتمنی څخه زیات بل شي ایمان ته زیان نشي رسولای.
- مور کولای شو، چې د عقل او پوهې په واسطه مخلوقات تابع کړو.
- څوک چې ادب نه لری هغه خالق او مخلوق ته ناخوښ وي.
- د علم زده کوونکې ته ضروري ده، چې ځان غوښتنه پریږدي.
- که غواړې لمر غوندې وځلیږې، اول لمر غوندې وسوځیږه.
- د شنه آسمان لاندې هر څه کېدای شي حتی د رښتیا برې په دروا غو باندې.
- په عمل باندې قضاوت مه بس کوه، هڅه وکړه چې د عمل انګیزه معلومه کړې، ترڅو هغه لکه څنګه چې دي وپیژنې.
- څوک چې خپل وروړ ته بربادي غواړي، هغه په زړه کې د اور لمبې غښتلي کوي.

د پاخه حکومت بنسټ په دریو شیانو ولاړ دی لکه؛ د خوراکې موادو

پريمانې ډيره وسله او د خلکو باور.

- که چيرې لارښود رښتينې عادل وي، رعيت به يې منونکې وي.

- ستر خلک چې په کوم شي نه پوهيږي د هغه په هکله خبرې نه کوي.

- که غواړې چې ژوند وکړې په ځان کې دې ګرانښت او سپېڅلتيا پيداوړې کړه ځکه چې کينه همشيني مرګ دی.

- هر شی په دنيا کې پيدا شوی دی ښکلې دی، خو د وطن پالنې په لاره کې مرګ ترټولو ښکلی دی.

- ستر سړی هميشه ارام دی او کوچنی سړی هميشه نا کرار.

- حوصله ډير ستر صفت دی، چې د لارښوونکو لپاره تاکل شويده.

- ستر خلک شخړې نه خوښوي که د غشيو ويشتلو په لوبه کې ګډون وکړي او ګټونکې شی د ويارجام د خپل سيال په سلامتی پورته کوي.

- پوهان له شک نه تښتي، ښه خلک له بيکارۍ نه او زړه ور خلک له دار نه

- څوک چې د رښتيا طرفدار دی، ښه دی پوه شي چې رښتيا څه شی ده.

- ستر خلک اوږده ژمنه کوی او زر يې ترسره کوي.

- صداقت د حقيقت ښکارندوی دی.

- هر څوک زړه لري او هر زړه هيلې لري.

- په دی مه ځوريږه چې ولی لوړ مقام ته نه يې رسيدلی، په دی وځوريږه چې ولې دی د لوړ مقام لياقت نه دی پيدا کړی.

- د لمر له وړانګو او د ځان له خندا وويريږه.

- جنت او دوزخ زموږ په زړونو کې دی.

- هر هغه څوک چې زمونږ هم نظره نه وي، زمونږ هم سنګری نشي کېدای.

- رښتينې ويار د اوښکو په وچولو کې دی، نه د وينو په بهولو کې.

- هوښيار پادشاهان د کار لپاره پوهان لټوي او کار د خلکو لپاره نه لټوي

- له عالم سره يو ګړی خبرې کول د لسو کالو تر لوست ډيره ګټه لري.

- نه موږ په بشپړ ډول هوښياران يو او نه نور په بشپړ ډول ليوني دي.

- چوپتيا هيڅکله نه تيروزي.
- کبر د نيوهۍ او هلاکت پيل دی.
- تقوی دا ده، چې د لويې او وړې ګناوو څخه ځان وژغورئ.
- څوک چې د خپل بخت نه راضي دی هغه غښتلي دی.
- چيرته چې قانون نه وی، هلته جنابتونه زياتيږي.
- هره خبره چې د اوريدونکې د شوق او عقيدې سره برابره وی، هغه په زړه پوری ده.
- د خلکو د قدر او قيمت په ګټلو سره د خلکو زړونه ګټل کېدای شي.
- ډيره پوهه په انسانانو کې غرور پيدا کوي، کله چې پرې عمل نه کوي.
- ادب لګښت نه لري خو هر شی اخيستلی شي.
- نيکې داسی شی ده، چې وسلوال بې وسلې کوي.
- څوک چې اخلاق ونه لري هغه انسان نه دی.
- خندا د روحی او بدنې تندرستی مرستندويې ده.
- قهر لومړی ليونتوب دی او وروسته پښيمانتوب دی.
- د نيمګړتياوو او عيبونو پيژندل تر هنر ليدلو ښه دی.
- زړه ور يوه ورځ مری او بې زړه هره ورځ.
- د سپيڅلتيا او صداقت استاذی وجدان دی.
- د ماشوم ښه او بد کړه وړه تول په مور پورې اړه لرې.
- وړتيا دی ته وايې چې له خلکو سره ښه چلند وکړئ، او خلک نيکو کارونو ته وهڅوئ.
- وجدان د انسان په شتو کې ستره پانګه ده.
- د ښو اخلاقو څښتن د ټولنې روح دی.
- د رښتينې وجدان خاوندان خپلې نيمګړتياوی نه پټوي.
- ډير ټيټ انسان هغه دی چې له سپکو، سپورو څخه نه ډاريږي.
- پر کومه لاره چې بلد نه يې سفر مه کوه.

- د ښو کړو، وړو مجموعه ادب او پيرزوينه ده.
- سخاوت هغه ونه ده چې ولې يې جنت ته رسيدلي دي.
- بد اخلاق زوی د شپږمې ګوتې په شان دی که پرې کوی يې خوږيږی او که پرېږدی يې بدرنګيږي.
- د تورو عزت او درناوی وکړه ترڅو د نورو د درناوی وړ سي.
- اې انسانه! د آخرت لپاره دومره خوارې وکاږه څومره چې ته هلته او سيږې.
- هغه څوک د لوړ همت څښتن دی چې په خپل نفس باور ولری.
- باور دومره ښکلې کلمه ده چې د رچا خوښيږې.
- څه شی چې په ځان نه لوروی، په بل يې هم مه لوروه.
- ليک يو ساکت غږ دی او قلم د لاس ژبه
- درواغجن د خدای دښمن دی.
- داسې څه ووايه چې تر چوپتيا يې ارزښت زيات وی.
- په دنيا کې يو جنت دی څوک چې دې جنت ته داخل شې د آخرت جنت ته نشي داخليدای.
- وخت ارزښتناک دی خو رښتيا د وخت څخه ډير ارزښت لری.
- پوهنه او روزنه د لوړو اخلاقو سرچينه ده.
- هرڅوک چې يو ښوونځی جوړ کړې لکه چې يوه بنديخانه يې ړنګه کړی وی.
- رښتينی تمدن هغه دی چې بنسټ يې په زړه سوی پيل شوی وی.
- کېدای شي چې په زور ډير شيان ترسره شې خو ځوانې نه پری اخيستل کيږی.
- ځوانې داسې ستوری دی چې يوازې يو ځل د ژوندانه په اسمان کې را پورته کيږی.
- کبر او غرور په ټولو کې يو ډول دی خو توپير يې په څرګندولو کې دی.
سندرې او بدلې په زړه کې داسې نفاق راشين کوې، لکه څنګه چې

سيلاب ګياه راشنه کوي.
- د ټولو بربادېو سرچينه کبر دی او د کبر سرچينه هم کم عقلتوب دی.
- کبرجن د خدای دښمن دی.
- څوک چې د نورو نيکې هيرولای شي، هغه دروا غ هم ويلای شي.
- د رښتينې دوست لرل تر هر څه زيات ارزښت لري.
- د ورځې ګانړه لمر او د شپې ګانړه سپوږمۍ ده.
- ځان وژنه (خود کشي) تر ټولو ستره پانګه ده.
- مور آسمانی فرښته ده چې خدای تعالی د لنډې مودې لپاره جسم ورکړی دي.
- هوښيار سړی خپل ځان ملامت کوی، خو کم عقل سړی خپل دوست ملامت کوی.
- څوک چې زموږ په وړاندې په بل چا پسې غيبت کوی موږ هم ورته کم عقل ښکاريږو.
- يا داسې خبره ولره چې زړه يې ومنی او يا داسې زړه ولره چې خبره ومنې.
- غيبت د رزيلانو خلکو مال څر دی.
- د تکبر له کبله دين او ايمان له منځه ځي.
- کله چې انسان نيک شي هر کار يې نيک وي.
- ژوند خو ټول تيروي؛ نر هغه څوک دی چې د الله تعالی په لاره کې تير کړي.
- علم د دين پالنې لپاره دی نه د دنيا خوړنې لپاره.
- پياوړي هدف ته د رسيدو لاره د اغزو په څوکه تللې ده.
- عالم ته په کار دې، چې الله تعالی ته د تواضع په اساس پر خپل سر ايرې واچوی.
- اخلاص دا دی، چې په دنيا او آخرت کې يې هيله ونه شي.
- په ځای ژړا دا ده، چې د انسان مناسب وخت له لاسه ولاړ شي.
- په کوچنۍ خوله غټې خبرې مه کوه.

- انسان په خبرو او څاروي په رسۍ وتړه.
- څرنګه چې انسان د مرګ لپاره پيدا شوی دی نو د حق په لاره کې په توره سره مرګ تر ټولو ښه او ارزښتناک دی.
- د دين اساس عقل، د عقل اساس علم او د علم اساس صبر دی.
- د ګيدړو پوځ چې قومندان يې زمری وی له هغه پوځ څخه ښه دی چې پوځ يې زمريان او قومندان يې ګيدړ وی.
- تر ټولو بد انسان هغه دی، چې په ظاهره ښه او په باطن کې بد وی.
- د انسان لپاره دا کار بسنه کوي، چې د الله تعالی څخه ويرېږي، او د انسان لپاره دا ناپوهي کفايت کوي، چې پر خپل علم باندی مغروره شي.
- مؤمن پر ستونزو صبر کوي، خو پر عافيت يو اځې صديق صبر کوی.
- الله تعالی ته لار د اغزو په څوکو ورغلې ده، چې هجرتونه، ستونزې، تېيونه، اوښکې، وينې او شهادتونه پکې پراته دی.
- کله دي چې چاته فريب ورکړ، فکر مه کوه چې څومره احمق وو، بلکه داسې فکر وکړه چې نوموړې په تا څومره باور درلود.
- ښه سړی هغه دی چې په ښو خلکو ګران او په خلکو زشت وي.
- تر ټولو پست او رزيل انسان هغه دی چې د دوستۍ د وخت رازونه دي د دښمنۍ په وخت ښکاره کوې.
- وروسته د دينې فرايضو څخه د مسلمان فريضه حلال کسب دی.
- کله چې يو سړی بل سړی ته پور ورکړې نو د پوروړې سوغات د نه قبلوې.
- کوم قوم ته چې خپله ژبه سپکه شی، هغه قوم سپک شي او د کوم قوم نه چې خپله ژبه ورکه شي، هغه قوم ورک شي.
- اې انسانه ! د دنيا لپاره دومره خوارې وکاږه، څومره چې ته دلته او سيږې.
- د خپل رب لارې ته په حکمت او ښه پند بلنه ورکړه او له دوی سره په هغه توکه چې تر ټولو لرو ښه ده خبرې اترې وکړه.
- که په چا بد ګمانه يې مه يې ګماره او که بيا دی وګماره بد ګمانې پرې مه

کوه.
- ځيرک انسان لوېږي ستونزې په وړو بدلوي او وړې ستونزې له منځه وړي.
- انسان يوازې د بل له ستر ګو خپل عيبونه ليدلای شي.
- انسان ته ګل ونيسه بوی به يې کړي، خره ته ګل ونيسه وبه يې خوري.
- د دنيا کړاوونه وزغمې ځکه چې دا ستاسو د پرمختيا باعث ګرځي.
- له کوچنيانو سره مينه کول هم د الله تعالی خوشحالول دي.
- ښه انسان هغه دی چې د نورو اړتياوو ته تر خپلو اړتياوو لومړيتوب ورکړي.
- تر ګناه وروسته پښيماني هم د توبې يوه برخه ده.
- د غصې په وخت کې فيصله مه کوئ او د خوشحالۍ په وخت کې وعده.
- يوازې دا خبره بس نه ده، چې بختور شو بلکه بايد د بختور توب پړاو ته د رسيدو په لارو چارو ځان پوه کړو.
- زړه وګټه ځکه چې په نړۍ کې تر مينې زيات بل قيمتي څيز نشته
- که آزادي غواړې ځان پابند کړه.
- که ټوله دنيا د يو کس شي، بيا به هم غمونه ورسره وي.
- د ډيرو ناکاميو تر شا کاميابي پرته ده.
- د ښځې او ځمکې په حاصلولو کې ډير احتياط کوه.
- د چا چې تربيت په سخته شوی وي، هغه د خپل اولاد تربيت هم په سخته کوي.
- تر ټولو ژور نظر پر خپل ځان باندې لره.
- د مور او پلار په موجوديت کې ډير کم اولاد د ذمه وارۍ مظاهره کوي.
- کله، کله يوه کوچنۍ پيښه مونږ د يوه ستر حقيقت سره مخامخ کوي.
- هغه چې هر څومره زيات وي بيا هم لږ دی،،،،، ژوند دی.
- دوست له دوست څخه ګيله کوي، دغه ګيله د دوستۍ د لا ټينګيدو غوښتنه ده.

- خپل زړه په خپل لاس کې ساتل او د نفس له هوسونو نه ځان ژغورل په خپله یوه میړانه ده.
- کوم ملګری چې مو د درد په وخت کې په ښه رانشي هغه تر ټولو غټ دښمن وګڼې.
- اخلاص دی ته وایې چې په هر کار کې د الله تعالی رضا په پام کې ونیول شي.
- له ځان نه د شمعې په ځای پتنګ جوړ کړی چې ستر ویاړ مو په برخه شي.
- تر مضرو انسانانو بې بدو بار وړونکي څاروي غوره دی.
- په ورکړه کې چې څه خوند دی، هغه بیا په راکړه کې نشته
- څوک چې هر وخت پر غچ اخیستلو غور کوي، د هغه ټپونه همیشه زولن وي.
- له هغې ګټې نه ځان وساتې چې نور پرې تاوانې کیږي.
- چا چې په تیاره کې ژوند کړي دی په ناځاپې رڼا کې یې سترګې بریښي.
- مور د ربښتینو الی ښکارندوی ده، د هغې د رضا د خدای رضا ده، باید د خدای رضا ترلاسه کړو.
- نیکي هر شی ته ماتې ورکوي خو خپله ماتې نه خوري.
- د پاچاهانو حکومت په خلکو وي، خو د عالمانو حکومت په پاچاهانو.
- د الله تعالی له رحمت څخه هیڅکله مه مایوسه کیږئ.
- کوم سړی چې د قناعت څښتن نه وي، هغه هیڅکله هم شتمن کېدای نه شي.
- دنیا دریاب دی، خلک مسافر دي، آخرت ساحل دی؛ خو د خلاصون کښتۍ تقوی ده.
- هوډ او تصمیم د مار ماهي په شان دی، چې نیول یې آسان او ساتل یې ستونزمن دي.
- تینګ هوډ په ټولو شیانو، آن په وخت باندې هم بری مومي.

- ټينګه عقيده او په ځان باور غرونه نسکوروي
- هيله او اميد د انسان د تسلي او د بشر د تکيه ځای دی
- د برياليتوب لپاره ډېره غوره لار هيلې دي
- خوشحالي او نيکمرغي داسې درمل دي چې طبيعت ورپيا رابښلي دی
- خوشحالي او نيکمرغي په هيلو پسې منډې وهل دي، نه په هيلو پسې رسيدل
- هيله يوه داسې ډيوه ده چې تول بې پر شا او خوا را تاوېږي
- ډېر خلک د نيکمرغی لاپې وهي، خو ډېر لږ يې په رښتينی معنا پوهيږي

دې کتاب پي ډي ايف PDF د زرين دسپانشي
۱۳ کال ۱۳۹۷ ل تبديل شو . 11:12PM
پي ډي ايف کوونکی: عزت الله سلطانزی
د فيسبوک پته : Ezatullah sultanzai

# ماخذونه

۱. تفهیم الحدیث
۲. صحیح البخاري
۳. صحیح المسلم
۴. نخبة الحادیث
۵. د لقمان حکیم (رح) نصیحتونه
۶. کابلی تفسیر
۷. سنن ابوداود
۸. سنن ابن ماجه
۹. سنن نسايي
۱۰. د اسلامي فقهي څلور ستر امامان
۱۱. دیني تبلیغي نصاب
۱۲. شهادت او ونیزه
۱۳. تعلیمي نصاب



محمد منیر شمس د عبدالمنان شمس زوی، چې په ۱۳۷۷ ل.ل کال کې د وردګو ولایت د جغتو ولسوالۍ د الکوزي قوم په درانیو کلي کې زېږېدلی دی.
خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د کابل ښار په غلام محمد غبار عالي لیسه کې سرته رسولي دي، په ۱۳۹۵ل.ل کال د کانکور له لارې د دعوت پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته وربېژندل شوی، چې اوس په لوړو زده کړو بوخت دی.



فضل محمد عزیزي د عبدالکبیر عزیزي زوی، چې په ۱۳۷۷ل.ل کال کې د وردګو ولایت د جغتو ولسوالۍ د الکوزي قوم په درانیو کلي کې زېږېدلی دی.
نوموړی د کابل د غا[illegible] په دولسم ټولګي کې په زده کړو بو[illegible]




چاپچاري
اثر خپرنیز خدمتونه- جلال آباد
0772120703 - 0788003703

Designed by: Ab. Hadi Asar

Download from:aghalibrary.cm